# د سینګاپور داستان




Ketabton.com

دري ژباړه او لنډیز: محمود کرزی

پښتو ژباړه: امېد حیران

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سینګاپور داستان

## (د لي کووان یو خاطرې)

اخیستنه او ترتیب:

محمود کرزی

ژباړن:

امېد حیران

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د سینګاپور داستان

اخیستنه او ترتیب: محمود کرزی

ژباړن: امېد حیران

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۶۰)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**

پېژندنه........................................................١
هغه لاره چې باید په یوازېتوب سره ترسره شوې وای............٣
انگلستان خپل ځواکونه اوباسي.................................١٣
د پیسو مالي مرکز جوړول..........................................١٦
د کارگري ټولنو د مرستو جلبول.................................۴۴
منصفه ټولنه، نه جیره خوړونکې ټولنه..............................۴٩
تقاعدي حقونه......................................................۵۴
په غرب کې د رفاهي پروگرامونو لگښتونه........................۵٨
د سېنگاپور سیاستونو خلک ډېر کار ته وهڅول.....................۵٩
سینگاپور  دیوه نړیوال سوداگریز او اقتصادي مرکز په توگه......٦۴
د ښارونو سرسبزه (شنه) کول.....................................٦۵
مطبوعات او بهرنۍ گټې.............................................٦٨
ټولیزې رسنۍ.......................................................٧۴
فیلیپیني رسنۍ......................................................٨٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

کله چې مې د سينګاپور داستان ټول کتاب مطالعه کړ، نو رينښتا ووايم ډېر جالب، ګټور او نادر کتاب و، سمدستي مې يې د پښتو ژبارې تکل وکړ. نوموړی کتاب اصلي په انګليسي ليکل شوی دی چې په دري ژبه ژباړل شوي کتاب څخه ښاغلي محمود کرزي اقتباس کړی او ما همدغه اقتباس شوی کتاب پښتو ژبې ته وژباړه.

د سينګاپور داستان کتاب ليکوال د نوموړي هېواد د بنسټګر او لومړي ولسمشر لي کوان يوو دی، په ياد کتاب کې د نوموړي ياديزې او خاطرې ليکل شوي چې د خپلې ولسمشرۍ پرمهال يې ليکلي دي، پدې کتاب کې د نوموړي اقتصادي طرحې، د فساد پرضد مبارزه، د اقتصادي مافيا له منځه وړل او په نوموړي هېواد کې د رسنيو، روغتيا، کرنې، ښاري ښکلا، ملت جوړونه او نورو مسايلو په اړه د نوموړي بريالۍ طرحې او خاطرې ليکل شوي پدې کتاب کې دا هم ليکل شوي چې نوموړي څنګه وکړای شول سينګاپور د يوه تش ډاک څخه د نړۍ پر مهم سوداګريز، اقتصادي، پولي او ټرانيتي هېواد بدل کړي.

پدې کتاب کې دا هم ليکل شوي چې دداسې يوې ټولنې څخه ملت جوړ کړي چې د بېلابېلو مذهبونو، ډلو او متفاوتو کډوالو څخه جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وي لکه د هندوانو، چینایانو، برتانویانو، اندونیزیایانو او هالنډیانو څخه تشکلیل شوي هېواد یې د یوه موټي ملت په توګه جوړ کړ.

دا کتاب د افغانستان د اوسنیو حالاتو لپاره یوه ښه نسخه ده چې زموږ سیاسیون یې پلي کړي، چې څنګه وکړای شي زموږ ملي ګټو، ملي ارزښتونو، اقتصادي خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت تامین کړي.

زه د قدرمن استاد ښاغلي پوهنوال محمد اسمعیل یون څخه ډېره مننه کوم چې د نوموړي کتاب د چاپ په برخه کې یې لازمې شوننتیاوې برابرې کړي او په غوره بڼه یې چاپ کړ، همدارنګه د قدرمن ملګري ښاغلي فیاض حمید نه ډېره مننه کوم چې د کتاب پښتۍ یې په خپلو ګوتو ډیزاین کړه او د درونند ملګري ښاغلي ضیاءالرحمان ضیاء نه هم ډېره مننه کوم چې د کتاب د متن په ډیزاین کې یې خپل مخلصانه کار ونه سپموه، یوه نړۍ منندوی یم. زه نورې خبرې نه اوږدوم تاسو ته د کتاب د لوستو بلنه درکوم.

درنښت

امېد حیران

پلازمېنه کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندنه

هغه کتاب چې د ځینو مطالبو خلاصه یې دلته وړاندې کېږي، د ډېرو لوړو او ځیرکو کړندلارو درلودونکی دی چې د سینګاپور د پېژندل شوي رهبر ښاغلي لي کوان یو (په ۱۹۲۳ سپتمبر په ۱۲ زېږېدلی) د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ د تامین په موخه طرحه او وړاندیز شوی.

دا کړندلارې د ستونزو لپاره ګټورې حل لارې وړاندې کوي، چې یو وخت د سینګاپور خلک ورسره ښکېل وو. د ښاغلي (یو ) دا کتاب ډېر ښکلی او ډېر په زړه پورې او د لوستو وړ کتاب دی، دا کتاب د تازه او نوښتګرو مفکورو څخه ډک دی، چې د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو او شاتګ طرحه شوی او د خپله د ښاغلي (یو ) له خوا په عمل کې پلی شوی.

د ښاغلي یو کتاب له شک پرته د هغو خلکو لپاره ګټور او اړین دی چې د هغوی موخه د انکشافي لارو پلټل وي چې د کلتور، عادتونو، تاریخ او د ټولنې ټولنیز جوړښت سره سمون وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه چې دلته لولې، ځینې مفکورې او کړنې دي چې د ښاغلي یو په کتاب کې تر بحث لاندې نیول شوي او په عمل کې د هغوی پلي کول د سینګاپور د چټک پرمختګ یې رامنځته کړی.

د ښاغلي لي کووان یو افکار او بریالیو کړندلارو د دریمې نړۍ د ډېرو رهبرانو پام ځانته اړولی دی او په ځانګړې توګه ختیځو اسیایي هېوادونو کې پلي شوي دي. پدې ډول چې دا انکشافي کړندلاره یوه غوره بېلګه او موډل دی چې د اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو لپاره یې د جنوبي اسیا هېوادونو لپاره وړاندې کړی. د لي کووان یو ځینې ستراتیژۍ چې د سینګاپور او سني پرمختګ هغه ته منسوبېږي په لاندې ډول وړاندې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه لاره چې باید په یوازېتوب سره ترسره شوې وای

داسې اثار او کتابونه شته دي چې د ماښیو جوړولو، ماشین جوړولو یا د کتابونو لیکلو طریقې انسانانو ته زده کوي. خو ما په ټول ژوند کې داسې کتاب نه لوستی او نه لیدلی چې خلکو ته د ملت جوړونې لاره وښیي، هغه هم داسې ملت چې له بېلابېلو ډلو لکه، چیني کډوال، برتانوي هندوان، اندونیزیایان او هالنډیانو څخه جوړ شوی وي. همدارنګه ما تراوسه داسې کتاب نه دی لیدلی چې د داسې خلکو لپاره د ګټې وړ چل وښیي چې پخوانی حیثیت د سوداګریز بندر په توګه له لاسه ورکړی وي او د لوړې له ګواښ سره مخ وي.

ما هېڅکله انتظار نه درلود چې په ۱۹۶۲ کال، د ۶۲ کلنۍ په عمر به د خپلواک سینګاپور مسوولیت او د دوه میلیونو نفوسو زیمه واري په غاړه واخلم. له ۱۹۵۹ کاله څخه هغه وخت چې ۳۵ کلن وم، د سینګاپور د خپلواک دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی وزیر وم. موږ په ۱۹۶۳ د مالیزیا فدراسیون سره یوځای شوو، خو ډېر ژر د سینګاپور او فیډرالي حکومت ترمنځ د اساسي نظرونو اختلاف راغی، دا چاره د دې سبب شوه چې یو ناڅاپه د ۱۹۶۵ کال په اګست کې د یوه خپلواک دولت په توګه رامنځته شو او د پرمختګ ستونزمن لار او د بې وزلۍ څخه په یوازې ځان ووځو.

زموږ څخه وغوښتل شو چې مالیزیا پرېږدو او خپل نوی برخلیک پخپله وټاکو، دې وخت کې ډېرې ستونزې زموږ پر مخ پرتې وې او زموږ بقا یو ناشونی ښکارېده، سېنګاپور یو طبعي هېواد نه وو؛ زموږ مملکت داسې پخپله مو رامنځته کړی و او د تاریخ په اوږدو کې مو د نورو هېوادونو تر قلمرو لاندې ګڼل کېږدو، موږ یوازې هغه هېواد و چې انګلستان د خپل سوداګریزو توکو د بندر په توګه رامنځته کړی و او د خپلې نړیوالې سوداګرۍ د یوځای کېدو د ټکي په توګه ګټه اخیسته، دا هغه جزیزه وه چې موږ ته ډېره نیمګړې په میراث پاتې وه، دا ځمکه په حقیقت کې هغه زړه و چې بدن یې زموږ په اختیار کې نه و.

زموږ د خپلواکۍ نه وروسته مطبوعاتي تبصرې د بدبینۍ او ناهیلۍ نه ډکې وې او دې کار زه ډېر زورولم. یوه لیکوال د مستعمرو څخه د انګلیستان وتل د روم امپراتورۍ د نزول سره پرتله کول، چې د مستعرو څخه د رومي ځواکونو د وتلو نه وروسته هلته نظم خراب، بې قانوني او ګډوډي رامنځته شوه او وحشي قومونه پر امپراتورۍ مسلط شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"دینین وارنر په ۱۹۲۵ نېټه په Sydney Morning Herald کې داسې ولیکل: یو خپلواک سینګاپور درې کاله مخکې د پاتې کېدو وړ نه وو. هېڅ داسې نښه نښانه نه وه چې سینګاپور دې د پاتې کېدو قابلیت ولري.
" ریچارډ هیو په ۱۹۲۵ کال د اګست په ۲۲ نېټه په London Sunday Times کې داسې ولیکل (که د برتانیې هغه چې ۱۰۰ میلیونه پونډه لګښت لري بندې شي، د سینګاپور اقتصاد به سقوط وکړي.) ما دا ډول اندېښنې پرځای بلل خو چاته مې نه ویلې؛ زما دنده دا وه چې خلک هیله من کړم نه دا چې د هغوی روحیه کمزورې کړم.

یوه مهمه پوښتنه چې زما په ذهن کې ګرځېده دا وه چې برتانیه ترکله کولای شي په سینګاپور کې خپلې اډې وساتي، د برتانیې لومړی وزیر ویلسن پارلمان کې د خپل ګوند غړو د مخالفت سره مخ و، د (سویز شرق کانال) ډېر لږښت درلود او د کارګر ګوند لپاره یې ډېرې رایې نه درلودې.

د برتانیې حکومت کارګر ګوند غوښته چې خپلې پیسې ډېرې په پرمختیایي پروژو کې ولګوي، چې پدې کار سره یې رایه ګټله.

د امریکا متحده ایالات یواځینی قدرت و چې کولای یې شو په ختیځې اسیا کې امنیت او ثبات تضمین کړي او په خپل وار په ویتنام کې د ګوریلایي جنګ کې بوخته وه، چې د امریکا په متحدینو او په اسیایي او افریقایي هېوادونو کې یې شدید درز اچولی و، د شوروي اتحاد او د چین جمهوریت لخوا د امریکا ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروپاګنډې په دربمه نړۍ یو اغېزمن کار و، ما داسې احساس کاوه چې متحده ایالاتو ته اجازه ورکول چې د برتانیې نقش سره په سینګاپور کې مقابله وکړي که ناممکن وي لږ تر لږه له سیاسي اړخه به لوړه بیه ولري.

له بل پلوه استرلیا او نوي زیلانډ د سینګاپور لپاره باوري تضمین کوونکي نشوای کېدای، ما دا وېره لرله چې د برتانیا نفوذ به ورو ورو خو په قطعي ډول به لږ شي او د متحده ایالاتو نفوذ به ډېر شي. لکه زما د نسل پشان د هغه نسل چې د امپراتورۍ په خېټه کې لوی شوی و، د دا ډول یو بدلون هضمول اسانه نه و.

په نوي اوضاع کې ستونزمنه وه چې له برتانیې پرته د امریکا خواته راشم، انګرېزانو په ډېرې نرمۍ سره غوښته خپل نظر تحمیل کړي، پدې اړوند د امریکایانو چلند د انګرېزانو سره ډېر توپیر درلود؛ دا ډول توپیر د جنوبي ویتنام د مشرانو سره په ښکاره ډول لیدل کېده؛ ان د تایلینډ او فیلیپین مشران چې دومره تر ګواښ لاندې نه وو، هم د امریکا د سرزوري چلند سره مخ وو. امریکا د عروج پرلور یو ځواک و د ځواکمنو متو سره او غوښته یې ترې ګټه واخلي، زما بله اندېښنه د سینګاپور له قلمرو څخه دفاع وه، دا په داسې حال کې وه چې موږ کافي نظامي ځواک په واک کې نه درلود، موږ دوه نظامي کنډکه درلودل او دواړه د یوه مالیزیایي تورن ترقوماندې لاندې وو، پوښتنه داوه چې څنګه ژر کولای شو د سینګاپور څخه د دفاع لپاره نظامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک جوړ کړو ولو که لوږنۍ او لږه هم وي، موږ اړ وو چې له کودتا یا د نورو له تېري څخه ځان وژغورو، چې مالیزیایي افراطیونو کولای شو د مالیزیایي ځواکونو نه په ګټنې زموږ د هېواد پروړاندې پیل کړي،

دې ډول کرغېړنو حرکتونو کولای شول چې هغه خپلواکي چې مو ترلاسه کړې ورته زیان ورسوي او شاتګ ته مو اړ کړي، په کوالالمپور کې د مالیزیا ځینې رهبران پدې نظر وو چې سېنګاپور ته باید هېڅکله اجازه نه وای ورکړل شوې چې له مالیزیا څخه بېل شي.

دا اشخاص پدې باور وو چې سېنګاپور باید په زور غاړې ایښودو ته برابر شوی وای، په هغه صورت کې چې یوه پېښه کېدله او څه شی په سرتونکو عبدالرحمان( دهغه وخت د مالیزیا رهبر) راتله، تورن عبدالرازق د لومړي وزیرۍ مقام ته رسېده او د مالیزیا افراطي رهبرانو هغه مجبوروه چې د د سېنګاپور په اړه د (تونکو ) سیاست ته تغیر ورکړي، دې کار کولای شو چې سېنګاپور د تاوتریخوالي سره مخ کړي، یو د بې باورۍ او خطرناک وخت وو.

سره له دې چې له دې ډول اندېښنو سره لاس او ګرېوان وم، مجبوره وم یو بل مهم کار چې د په هېواد کې د نظم ساتنه او قانون و ځواب ویوونکی و اوسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورږ وېره درلوده، کله چې د ماليزيا ملي واحد سازمان ماليزيايي پلويان متوجه شي که د ماليزيا حکومت هغوی يوازې پرېږدي، له کنټروله اوځي او د اټکل نه لرې اقداماتو لاس پورې کړي، بلخوا زمورږ اکثريت پوليس ماليزيايي الاصله افراد ول. سېنګاپور ته ددې اشخاصو وفاداري کولای شوای د سېنګاپور حکومت د ماليزيايي سينګاپوري شورشيان بدلون وکړي او ماليزيا سره د سېنګاپور د بيا يوځای کېدو پلويتوب وکړي، نو مورږ سېنګاپور سره ددوی له ملاتړ څخه ډاډمن نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې ګاه کېنګ سووي (Goh king Swee) لېوال وو چې زموږ د امنيتي ځواکونو جوړښت پر غاړه واخلي، د امنيت له اړخه يو څه ارامه شوم. کېنګ سووي چې په برتانيه کې يې زده کړې کړې وې په ۱۹۶۵ کال کې د سېنګاپور د لومړي وزير په توګه وګمارل شو، ما دا هوډ درلود چې د کورنيو چارو او ملي دفاع وزارتونو مسووليت د يوه وزارت په چوکاټ هغه ته ورکړم، دا چاره هغه سره دا مرسته کولای شوای چې د پوليسو څخه د پوځ د روزنې په برخه کې ګټه واخلي، نظامي ځای ته د کېنګ سووي لېږد، په ماليې وزارت کې لويه تشه رامنځته کړه، ما دا موضوع هغه سره شريکه کړه او دواړو د ليم کيم سان (lim kim san) د ماليې وزير په توګه وګماره، د کېم سان يو کارنده سړی و، کاريګر شخص و، هغه پرته له ستونزې د کېنګ سووي سره هم کار کولای شوای. دې چارې ښاغلي کېنګ ته فرصت ورکاوه چې ترڅو په غير رسمي ډول د اقتصادي سياست په برخه کې مرسته وکړي.

درېيمه مسله او ترټولو لويه مسله چې ورسره مخامخ وو هغه اقتصاد وه

-څنګه کولای شوو ولس لپاره د ډوډۍ غم وخورو؟

اندونيزيا موږ سره په مخالفت او سيالۍ کې وه او سوداګرۍ د رکود په حالت کې وه، ماليزيايانو غوښتل سېنګاپور له پامه وغورځوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو سوداګریزو شریکانو، واردوونکو او صادروونکو سره د خپلو بندور له لارې نېغ په نېغه معامله وکړي، هغه خپلواک سېنګاپور څنګه کولای شو د برتانیې د تسلط نه پرته په خپلواک ډول خپله بقا وساتي؟ پداسې حال کې چې بېکاري په سلو کې ۱۴ سلنه وه او د لوږېدو په حال کې وه، باید دې ډول اساسي پوښتنو ته ځواب ویلی شوای وای، سربېره پردې روښانه وه چې موږ باید په نوي معیشت لاره جوړه کړې وای، ما وارداتي مواد لیدلي وو چې سېنګاپوري کارکوونکو په کره ډول هغه درجه بندي کول او د صادراتو لپاره یې چمتو کول.

له دې نه وروسته خام مواد چې د مالیزیا او اندونیزیا څخه سېنګاپور ته وارد ېږي، صادرولو ته اماده کېږي، زموږ په واک کې نه وو. موږ مجبور وو یو نوی اقتصاد رامنځته کړو او نوې لارې او طرحې تجربه کړو، هغه طرحې او کړندلارې چې د نړۍ په هېڅ ګوټ کې چا نه وې تجربه کړې، ځکه داسې هېواد نه وو چې موږ دې ترې تقلید کړی وای، هانکانګ یوازینۍ جزیره وه چې له موږ سره یې ورته والی درلود؛ خو د هانکانګ حکمراني یوازې د انګلستان په لاس کې وه او چین یې د خپل وروستۍ ځمکې په توګه په واک کې لرله. له اقتصادي نظره، هانکانګ تر ډېره د چین برخه وه او د اتصال او اړیکو د پل په توګه یې د چین او پانګوالې نړۍ او د غیر کمونیست هېوادونو سره یې د سوداګرۍ دنده ترسره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې مسلو په اړه له دقت وروسته او هغه بدیلونه چې په لاس کې مو وو، دې پایلې ته ورسېدو چې که کېدای شي سينګاپور د اسيا په جنوب ختيځ کې د يوه جزيره ډوله ښاري دولت په توګه پاتې شي، نشي کولای د يوه عادي سياسي واحد ته توګه عمل وکړي، د داسې يو ښاري دولت د پاينښت لپاره لازمه ده چې د هغه خلک خارق العاده کوښښونه وکړي او بايد متحد، اوړېدونکي او د شرايطو سره برابر خلک اوسي، موږ چې پداسې يو ښاري هېواد کې ژوند کاوه بايد داسې خلک پاتې شوي وای چې خپلې چارې مو اغېزمنې او نظر ګاونډيانو ته ارزانې ترسره کولای؛ ځکه زموږ ګاونډيو داسې هوډ درلود چې موږ هېڅ وګڼي او زموږ رول د يوه سوداګريز ګودام او دلال په توګه له منځه يوسي.

زموږ ترټولو لويه پانګه زموږ د خلکو باور و، دا باور موږ د خپلې مبارزې له لارې ترلاسه کړی و، چې د خپلو خلکو په نه شتون کې، پرته د کومې وېرې، د کمونيستانو او ماليزيايي افراطيونو پروړاندې مو پيله کړې وه او دا کار مو هغه وخت وکړ چې زموږ پوليس او پوځي ځواکونه لا تراوسه د ماليزيا مرکزي حکومت په لاس کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمونېستانو زه او زما همکارانو ته ډېر بد د فوډالېستانو د نوکرانو په توګه نظر کاوه ، خو کله چې حالت بد تر شو ان چینایان چې چپ خواته یې مېلان درلود هم زموږ د معترضینو دفاع ته را ودانګل موږ ډېر احتیاط کاوه چې د هغو خلکو باور چې زموږ په برخه شوي وو د اداري فساد له امله له لاسه ورنکړو. ما دې سیاسي پانګې ته سخته اړتیا درلوده، ترڅو وکولای شم د سېنګاپور د عالي او ګټور سوداګریز موقعیت څخه، د هېواد د یوازینۍ ملي شتمنۍ په توګه اعظمي ګټه پورته کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انګلستان خپل ځواکونه اوباسي

په کال ۱۹۶۶ کله چې ما او (سووي) له ډینیس هیلي څخه غوښتنه وکړه چې یو شمېر جنګي هاکر هنټر ماډل الوتکې پر موږ خرڅې کړي، هغه وخندل...

پداسې حال کې چې موږ ته یې ګوتڅنډنه کوله، هیلي Hili و پوښتل، ستاسو د پوښتنې موخه له جنګي الوتکو څخه څه ده؟ پداسې حال کې چې د برتانیې هوايي ځواکونو زموږ دفاع پرغاړه درلوده، پرته له دې چې موږ الوتکه واخلو، لندن مو پدې موخه پرېښود چې د اړتیا پر مهال به انګلستان د سېنګاپور څخه دفاع کوي. موږ د برتانیې د ځواکونو څخه چې موږ ته یې دفاعي بارو راکاوه ډېره اړتیا درلوده، له دې نه مخکې چې موږ له خپل ځانه دفاع وړتیا پیدا کړو، د برتانیې ځواکونو سېنګاپور پرېښوده، زما په اند موږ ددې جوګه نه وو چې له ځانه دفاع وکړو. په سېنګاپور کې د انګرېزي ځواکونو شتون خلکو ته ډاډ ورکاوه؛ له دې ډول ډاډ پرته بهرنۍ پانګه اچوونه نه کېده، د ځینو توکو صادرول او چوپړتیاوې یوازینۍ لاره وه چې موږ کولای شول د هغه له لارې د هغو ځوانانو لپاره چې د پوهنتونونو څخه فارغېږي، د کار یوه زمینه ورته برابر کړو او د پراخې بې کارۍ څخه مخنیوی وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه کال په جنوری میاشت کې مې د انګلستان لومړي وزیر هارولډ ویلسن سره د همګټو هېوادونو په بېړني غونډه کې چې په لاګوس کې د رودیشیا د خپلواکۍ د یو اړخیزې اعلامې په اړه جوړه شوې وه ورسره ملاقات وکړ، موږ ددې کنفرانس په غاړو کې په سېنګاپور کې د برتانیې د پاتې کېدونکو ځواکونو پر موضوع خبرې وکړې.

هغه ماته معلومات راکړل چې کېدای شي مجبور شي خپل ۲۵۰۰۰ څخه تر ۵۰۰۰۰ زره نفرو عسکر له مالیزیا څخه بهر کړي.

که څه هم هغه څرګنده کړه چې تراوسه پدې اړوند پرېکړه نه ده شوې، خو زما انګېزه داوه چې هغه د ځواکونو د حرکت په درشل کې وو، د برتانیې د ادارې د لا روښانه درک لپاره او د هغه هېواد په دفاعي بحث په اړه مو په ۱۹۶۲ کال د اپرېل میاشت مو په لندن کې سره بیا ولیدل.

د سویز له ختیځ څخه د ځواکونو ویستلو په کارګر او محافظه کار ګوندونو کې ډېر پلویان درلودل ددې ګوندونو ډېری لیکوالو مبصرینو او ډېری رهبرانو له دې مفکورې څخه ملاتړ کاوه، چې ما لپاره ټکان ورکوونکې وه، ښاغلي ډېنس هیلي د رسنیو پر وړاندې څرګنده کړه چې د ځواکونو بېړني وتل د برتانیې په کابینه کې قوي پلویان لرل.

دا اشخاص د جورن براون د ویلسن څخه وروسته چې د کابینې دوېم کس دی رهبري کېدل، پال جنسن د ( نیو سټېسمن ) ورځپاڼې مدیر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۲۸ کال په پوره ډاډ سره د سویز ختیځ څخه د برتانیه یې ځواکونو کره تاریخ خپور کړ، د سویز له شرق څخه د ځواکونو وتل هغه مفکوره وه چې په اسانۍ سره یې کولای شول په کارګر ګوند کې ځانته ډېر پلویان جلب کړي. د محافظه کار ګوند وزیر او د مالیې او اقتصاد مجازي وزیر راته وویل چې د هغه په ګوند کې یو شمېر زیات د اروپا سره د یوځای کېدو پلویان وو چې د سویز له ختیځ څخه له د انګلیسي پوځونو د ویستلو له مفکورې څخه کلک ملاتړ کاوه.

د انګلستان ځواکونه باید لږ د سولې او ثبات لپاره په سیمه کې لږه وسیله وي او باید نظر پخواته د سیمې د ستونزو حل لپاره یو کمزوری ځواک په توګه مرسته وکړي، هغه ماته ګواښ وکړ چې د انګلستان نظامي سیاست د اسیا د جنوب ختیځ په اړه به ډېر داوسني حکومت په دوران کې بدلون ومومي. په سیمه کې د انګلیسي ځواکونو د موجودیت په اړه چې زموږ د خپلواکۍ ضامن بلل کېده ماته یو تشویش پیدا کړی و.

په پایله کې ما او کېنګ سووي پرېکړه وکړه چې پدې اړه د برتانیې د نهايي پرېکړې په اړه صرفنظر وکړو او ژر تر ژره د نظامي ځواکونو په اړه چې په ښکاره ډول موجودیت ولري یو اقدام وکړو، زموږ ددې کار څخه موخه داوه چې تر څو خپل خلکو او ګاونډیانو ته دا څرګنده کړو چې موږ کولای شو له خپل ځانه دفاع وکړو. له دې نه مخکې چې یوه ورځ لندن پرېږدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیسو مالي مرکز جوړول

که په **۱۹۲۵** کال کې د مالیزیا څخه د سینګاپور د بېلتون پرمهال چا وړاندوینه کړې وای چې سینګاپور به یوه ورځ د نړۍ یو مالي او اقتصادي مرکز وي، خلکو به ورته لېوني ویلي وای، یوه مهمه پوښتنه چې نن ورځ را پورته کېږي چې د لېونتوب دا وړاندوینه څنګه په ریښتیا بدله شوه ! څنګه وشول چې د سینګاپور پلازمېنې په ربنا ګانو ډکې لوړپوړیزې ماڼۍ او دفترونه د زرګونو کمپیوټرونو څخه په ګټنې د لندن، نیویارک، توکیو، فرانګفورت، هانکانګ او د نړۍ ځینې نورو مهمو اقتصادي او مالي مرکزونو سره ونښلېږي او په اړیکه کې شي؟

دا کار په **۱۹۲۸** کال کې په بشپړه توګه له اټکل نه لرې ښکارېده. د ډاکتر وینزیمویوس(Dr .Winsemius ) ټلیفوني خبرې چې ده له خپل ملګري او په سینګاپور کې د امریکا بانک له مرستیال سره یې کړې وې، په یادولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خپل ملګري ته چې په هغه ورځ په لندن کې وه داسې وويل:

„وګورئ ښاغلی وان اونن، مونږ (سينګاپور) غواړو په لسو راتلوونکو کلونو کې د سهيل ختيځې اسيا مالي مرکز واوسو،،.

ښاغلي وان اونن په ځواب کې وويل: „ډېر ښه لندن ته راشئ. تاسو کولای شئ په پنځو کلونو کې دا ډول وړتيا پيدا کړئ،،.

وينسيميوس له ځنډ پرته لندن ته لاړ. وان اونن هغه داسې يوه دفتر ته ويوړ چې هلته لويه ځمکه وه او ورته يې وويل: دلته وګورئ، مالي او پولي نړۍ له زوريخ څخه پيلېږي. د زرويخ بانکونه سهار نهه بجې خلاصېږي، ورپسې د فرانکفورت او وروسته بيا د لندن بانک کار پيلوي. له غرمې نه وروسته د زوريخ بانکونه تړل کېږي او ورپسې د فرانکفورت او لندن بانکونه خپل کارونه پای ته رسوي. کله چې په اروپا کې دا بانکونه خپلې دروازې وتړي، د نيويارک بانکونه پرانيستل کېږي. په دې وخت کې لندن خپل د پيسو جريان او د نړۍ مالي معاملات نيويارک ته سپارلي، له غرمې نه ورسته نيويارک هم د خپلو بانکونو دروازې تړي او خپلې دندې د سانفرانسيسکو بانکونو ته سپاري. کله چې د سانسفرانسيسکو بانکونه خپلې ورځنۍ چارې پای ته رسوي، نو د شپې توره تياره خپرېږي او خلک ويده کېږي. په وخت کې د څو ساعتونو لپاره د نړۍ پولي فعاليتونه ځنډ بږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترهغې چې په سبا سهار یې نهه بجې د سوېس په وخت یې بانکونه بیا پرانیستل کېږي. که چیرې موږ سېنګاپور په دې دوو معاملاتي وختونو کې ونیسو، مخکې له دې چې سانفرانسېسکو خپل ورځني فعالیتونه پای ته ورسوي، سنګاپور به وکړای شي د نړۍ د معاملاتو اصلي دنده پر غاړه واخلي او ورته دوام ورکړي. کله چې سېنګاپور خپلې ورځنۍ چارې پای ته رسوي نو د زرویج بانکونه خپلې دروازې پرانیزي او معاملات به ترسره کوي. پدې ترتیب د نړۍ مالي او پولي کړۍ کې د سېنګاپور داخلول، د جوړېدو وخت څخه تراوسه پورې به دا لومړی ځل وي چې د نړۍ د پیسو او مالي کاروبار به په ۲۴ساعتونو کې دوراني بڼه خپله کړي.

د وینزیموس د غوښتنې پر بنسټ، وان اون یو څېړنیز اثر ولیکه او (Hon sui sen) ته یې چې د سېنګاپور د اقتصادي پرمختګ د وبورډ مشر و ویې لېږه. هان سوی سن هغه څوک و چې د وینزیمیوس سره یې زما اړیکه ساتله. سوی سن به زما لیدو ته راغی او وړاندیز یې وکړ چې موږ باید د ټولو هغو اسعارو باندې بندیزونه چې د پولي معاملاتو څخه د سېنګاپور او سټرلېنګ پونډ حوزې له نه د بهرو هېوادونو له خوا لګېدلي وو له منځه یوسو.

موږ تراوسه د پونډ سټرلېنګ حوزې برخه وو او په دې حوزه کې زموږ غړیتوب موږ دې ته مجبورولو ترڅو د اسعارو محدودیت پر پولي لېږدونو وضع کړو، کله چې سوی سن د اسعارو صندوق جوړېدو مسله د هانک کانګ اسعارو صندوق پشان د سنګاپور

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د انګلستان بانک د يو مامور سره شريکه کړه، هغه ته وويل شول د هانګ کانګ د اسعارو ترتيبات د تاريخي والي لپاره يې منل شوي وي. د اسعارو صندوق جوړېدل ځکه مور ته اړين وو چې دې ډول صندوق مور ته اجازه راکوله چې چې د يوه ډالري بازار خاوندان شوو. د انګستان بانک دا موضوع جدي ونه نيوله او سېنګاپور د سترلېنګ حوزې په پرېښودو مجبور شو. په هر صورت څلور کاله وروسته د برتانيې حوزې نو مورې خوزه منحل کړه، خو سرچپه هانګ کانګ، سېنګاپور نه دا امتياز درلود چې د لندن ښار د شهرت او باور څخه د نړۍ د بانکي او مالي مرکز په توګه ګټه واخلي؛ او نه د انګلستان بانک څخه برخمن وو، هغه بانک چې د تجربو د سمبول، باور، او د نړۍ د پولي او مالي سالم مديريت څخه برخمن و.

په ۱۹۶۸ کال کې سېنګاپور د دريمې نړۍ له هېوادونو څخه ګڼل کېده، ددې لپاره چې نړيوال بانکوال سېنګاپور ته وهڅېږي، لازمه وه چې ټولنيز عدالت تامين شي؛ د کار او ژوند مناسب چاپيريال رامنځته شي، کافي او د باور وړ بنسټونه جوړ شي؛ علمي او مسلکي خلک د بهرنيو ګمارونکو ته ورسېږي.

ددې سربېره مور بايد بهرني پانګوال او بانکوال متقاعد کړي وای، چې د سېنګاپور پولي بورډ (Currency Board) او پولي ادارې دا مهارت او وړتيا لري چې زمور د بانکوالۍ له صنعت نه څارنه او ساتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما او کېنګ سووي د خپلواکۍ له هماغې لومړۍ ورځې نه مو دا پرېکړه کړې وه، چې سېنګاپور مرکزي بانک ونلري، چې د پیسو خپراوی پیل کړي مونږ هوډ درلود زمونږ پیسې د بهرنیو کرسنیو پرورانډې په ځانګړي ډول د متحده ایالاتو پر ورانډې خپل ارزښت ټیټ نکړي. مونږ خپل پولي بورډ خوندي کړ، دې بورډ اجازه لرله په هغه صورت کې چې د بهرنیو اسعارو د ملاتړ په نه لرلو سېنګاپوري ډالر خپاره کړي. د سېنګاپور پولي اداري(MAS) موسسه د یوه عادي مرکزي بانک ټول صلاحیتونه په واک کې لري، د پولي بانکنوټونو د خپرولو نه پرته.

د سېنګاپور پولي اداره هراړخیزه مسلکي پوهه لري، دا اداره د قوانینو، مقرراتو او اصولو سره سم فعالیت کوي چې چې په ترتیب سره نظر لاندې نیول کېږي ترڅو د مالي او پولي تازه چوپړتیاوو او پرمختګونو باندې ځان چمتو کړي. مونږ د باور، سلامتۍ، وړتیا او د مالي سالم قضاوت پر لور هره لار په پوره ځیرکتیا او احتیاط سرته ورسوله، زمونږ د مالي/پولي مرکز د جوړولو کیسه لویه ده، پدې برخه کې مونږ څرنګه د خپل سېسټم باور جوړ کړی او تجربه لرونکي او پوه مدیران مو روزلي دي. چې بانکونه، د پانګونې شرکتونه او مالي موسسې مونږ په بریالۍ توګه وڅاري. همدا کړنې وې چې مونږ د خپل مالي/ پولي سېسټم د ناکامۍ ګواښ حد اقل ته نږدې کړو. په پیل کې مونږ د یوه اسیایي ډالري بازارک چې د اروپایي بازار سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه لیکه کې وه پیل کړ. دا د بانکونو ترمنځ یو بازارو چې په سینګاپور کې موجود و چې د تقریض په موخه یې بهرني اسعار د سیمې بانکونو ته پیدا کول.

چې وروسته د اسیا ډالري بازار د اسعارو او مالي مشتقاتو په برخه کې او د هغو سهمونو څخه یې ولړولې چې په بهرنیو پیسو نومول شوې وې. دې بازار په ورو - ورو لوی پورونه، د پور د اسنادو خپرول او د پانګونې د صندقونو مدیریت یې هم د خپل کار یوه برخه وګرځوله.

د اسیایي ډالر د بازارونو ارزښت په ۱۹۹۷ کال کې تر ۵۰۰ میلیارده ډالرو څخه پورته و.

دا ارزښت زموږ د داخلي بانکي بازار د حجم درې چنده و، ددې بازار د ودې میزان خارق العاده و ځکه چې د بازار غوښتنو ته یې ځواب ویلی شو. کې د پانګونې او سوداګرۍ نړیواله پراختیا په پایله نړیوال مالي معاملات په ټولیزه توګه لوړ شول او شرقي اسیا یې احتوا کړه. پدې منځ کې سینګاپور (چمتووالی یې چې درلود) د سیمې د پولي/مالي نښلېدو د مهمو او کلیدي ټکو په حیث راڅرګند شو.

په لومړیو کې د ۱۹۸۵-۱۹۶۸ کلونو ترمنځ سینګاپور د سیمې ټول بازار په واک کې درلود او د سیالۍ سره مخ نه و. موږ هغه مالیات چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په له(د پانګوال د ماليې د سنجونې نه مخکې ) د بهرنيو پانګوالو د ګټې په حساباتي ربع باندې وضع شوی و او د پانګونې شرکتونو پواسطه چې دولت ته يې حساب ورکاوه له منځه يوړه، دا کار ددې سبب شو چې ګڼ شمېر د پانګونې او مالي شرکتونه سېنګاپور ته جلب شول. ددې سربېره مورږ د اسيايي ډالرو ټولې سپارښتنې د اقلي زېرمو او ضروري سياليت قانون د تطبيق پواسطه وبښل( دې کار د پانګونې دوران چټک کړ) په ۱۹۹۰ کلونو کې سېنګاپور د نړۍ د يوه لوی مالي او اقتصادي مرکز حيثيت ترلاسه کړ او د اسعارو بازار يې له ټوکيو بازار څخه وروسته د نړۍ لوی بازار ګڼل کېده، زموږ له برياوو څخه په تقليد ، د ۱۹۹۰ کلونو په منځ کې د سيمې ډېرى هېوادونه پدې فکر کې شول د مالي بارزارونو جوړولو او پراختيا ته کار وکړي. ځينې ددې هېوادونو څخه د داخلي او بهرنيو پانګوالو د جلبولو په موخه د مالياتي امتيازونو په ورکولو لاس پورې کړ د هغو امتيازونو په پرتله چې موږ يې وړاندې کوو، سخاوتمند او ډېر و. هغه څه چې سېنګاپور يې نظر نورو ته متمايزاوه هماغه کلک اساسات و چې زموږ مالي او پولي مرکزونه يې پياوړي کړي و.

دا اساسات عبارت و له: د قانون حاکميت، خپلواکه قضايي نظام او باثباته ، باکيفايته او صادقه حکومت چې سالم اقتصادي سياست يې تعقيبوه، او هر کال د کافي بوديجې څخه برخمن و. دا ځانګړنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سېنګاپوري ډالرو د تقويت سبب شو او د تورم د وارد ېدو څخه مخنيوی وشو.

په ۱۹۷۹ کلونو کې مورږ ښاغلي جېم سليتر يو انګليسي پانګوال چې د شتمنيو د سلب په څانګه کې يې تخصص درلود د ماسره ليدو په موخه سېنګاپور ته راغی. کله چې ابډوارډ هيت( د برتانيې لومړی وزيرد ۱۹۷۰-۱۹۷۴ ) کلونو ترمنځ صدراعظمۍ ته ورسېد ، د برتانيې مطبوعاتو اعلان وکړ چې هغه د خپلې برخو او دارايو ما هغه سره يو کال مخکې کتلي و ، چې د انګليستان د هيت لخوا برابرشو و ما په هغه وخت کې ما د سېنګاپور د اسهامو په بازار کې د ښاغلي سلېټر شراکت څخه تود هرکلی وکړ.

څخه موده وروسته، په ۱۹۷۵ کال کې، سووي سن زمورږ د ماليې وزير ماته خبر راکړ چې د سلېټر د اسهامو شرکت چې د يوه عامه شرکت په توګه ثبت وه لاسونه کړې وه، د ماليې وزير د معلوماتو له مخې، سليټر او همکاران يې د هاپار برادرز او د هغه د څانګو شتمني يې په غير قانوني توګه خپل او د يادې کمپنۍ د ځينو مديرانو شخصي حسابونو ته انتقالول، دا باور يوه جرمي سرغړونه وه چې پانګوالو په سليټر او همکارانو باندې يې کړې وه، سلېټر او همکارانو يې د هاپار شرکت برخوالو او نورو پانګې اچوونکو سره يې خيانت کاوه، ستونزمنه وه چې د لندن د اسهامو د يوې لويې او مشهورې کمپنۍ په اړه څېړنې وکړې. په هغه صورت کې چې زمورږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرنې ناسمې او غیر موجه ثابتېدلی، له شک پرته زموږ شهرت ته یې شدید زیان اړوه. ایا لازمه وه پر سلېټر ددې ګواښونو سره کومه اقدام وکړو؟ زه دې هو کړې ته ورسېدم چې موږ مجبور وو چې د ونډو بازار او شهرت ساتلو لپاره داسې یو اقدام وکړو، هغه خبرنې چې پیل شوې څرګنده یې کړه ې د هاپار شرکتونو د شتمنیو د غلاکولو لپاره منظمه دسیسه او پلان جوړ شوی و. ددې سرببېره څرګنده شوه ې دا توطیه د لویو درغلیو یوه وړه نمونه وه. د سلېټر جنایتکارانه فعالیتونه د سېنګاپور څخه مالیزیا، هانکانګ او بلاخره لندن ته چې ددې غلاوو یو لوی زیرمتون و رسېدله. سلېټر او همکارانو یې د په هانکانګ کې د (هاپار) له څانګو څخه په ګټې اخیستو په هغه ښار کې ثبت شوې ونډې پېرلې او سپایدار شرکت باندې یې چې د سلیتر –واکر بشپړ ملکیت و خرخولې. ناقانونه ګټه چې له دې لارې یې په لاس راوړلې د سلېټر واکر د شرکت د مدیرانو ترمنځ وېشل کېدلې.

هغه چاچې ددې ناوړه کار مسوولیت پر غاړه درلود؛ عبارت و له جیم سلېټر، ریچارډ تالینګ، د هاپار شرکت رییس او اوګلیوي واټسن، دهغه شرکت اداري امر واټسن لومړی لندن ته او وروسته بلجیم ته وتښتېدل، هغه هېواد چې موږ ورسره د بېرته راستنېدونکو کډوالو تړون نه درلود. سلېټر او ټارلېنک د لندن اوسېدونکي وو موږ هیله وکړه چې هغوی محکمې ته د حاضرېدو لپاره سېنګاپور ته راوګرځول شي؛ خو د انګلیس چارواکو زموږ په غوښتنه د ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلېټېرد بيرته راګرځېدو په اړه مثبت نظر رانکړ. د لندن په محکمو کې له دريو کالو دعوې وروسته، بلاخر د برتانيې د کورنيو چارو وزير په کال ۱۹۷۹ د پنځه وو تورونو په تړاو د ټارلينګ د بېرته راګرځېدو امر ورکړ. دا پنځه تورونه چې په ټوله کې ۱۷ تورنه وو هغه واړه تورونه وو چې ورې جزاګانې يې درلودې، ټارلېنګ محکمې ته کش شو او د شپږو مياشتو لپاره زندان ته ولېږدول شو. کلونه وروسته هغه د انګلستان بانک مشري له لاسه ورکړه، ګورډن ريچارډسن( د ټارلېنګ د محاکمې يو وکيل) دا چې ويې نشوای کړای چې ټارلېنګ د خپلو اعمالو په جزا ورسوي، خواشيني څرګنده کړه خو د خواشينۍ دا څرګندونه يې ډېره ناوخته وه او سېنګاپور لپاره يې کومه ګټه نه رسوله.

د سېنګاپور د پولي ادارې نېک شهرت په کار کې د دقت او قاطعيت په تړاو، يو وخت په ۷۰ او ۸۰ کلونو کې د ازموينې لاندې ونيول شو. چې دې ادارې د فعاليت له اجازې ورکړې څخه کريډيټ او کامرس انټرناسيونال يا بي سي سي ای بانکونو ته، چې په لوګزامبورک کې د يوه پاکستاني وکړي لخوا ثبت شوی و. د سعودي عربستان د شاهي کورنۍ غړي، بحرين، ابوذبۍ او دوبۍ څخه تشکلېدل. دا بانک د نړۍ په ۷۳ هېوادونو کې ۴۰۰ څانګې درلودې، په اروپا، منځني ختيځ افريقا او امريکا کې وې. دا بانک په ۱۹۷۳ کال کې په سېنکاپور کې د کار کولو وړانديز وکړ. له هغه ځايه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې بانک کاري تجربه نه درلوده او د ملاتړ پانګه Capitalization یې کافي نه وه، موږ د هغه وړاندیز د فعالیت نه دنه موجودیت له امله رد کړ، یاد شوی بانک په ۱۹۸۰ کال کې خپله درخواستي نوې کړه، د سنګاپور پولي اداري هم نوموړې درخواستي رد کړه، ددې ادارې په نظر، د بانک نړیوال باور کمزوری و.

ددې سربېره بي سي سي ای د خپلې خپلواکۍ نه تېر نشو. په ۱۹۸۲کال کې وان اونن چې موږ سره یې د اسیایي ډالري بازار په جوړولو کې کومک کړی و د بي سي سي ای څخه د درغواستۍ په اړه د معلوماتو غوښتونکی شو. په عین حال کې، د مرکزي بانکونو مدیرانو په پرلپسې توګه کوه بینګ سېنګ ته چې د سېنګاپور د پولي او مالي ادارې مشرمدیر و ویلي و چې هغوی د بي سي سي ای د سالتو لپاره چندان ډاډمن نه وو. نو ددې لپاره هغه وخت چې وان اونن ماسره ملاقات وکړ ما غوره وګڼله چې د کوه-بېنګ- سنګ د موقف څخه ملاتړ وکړم.

بي سي سي آی پرته له دې چې خپه شي یو ځل بیا د هرالډ وېلسن( د برتانیې لومړي وزیر) لخوا مخکې راغی. د سپارښتنې هغه لیک چې وېلسن په همدې اړوند زما لپاره لیکلی و، زما په نظر عجیبه راغی داسې چې هغه، د معمول خلاف لیک لاسلیک کړی و، داسې څرګندوله چې نوموړی له اصلي مطلب نه ناخبره دی اودا یې د خپل ملګري د خوشالولو لپاره لیکلی و. د بي سي سي آی درغلي او قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاف کړنې د نورو بانکونو لپاره د ډېر زيان اړولو سبب شو او ترهغې چې کړکېچ پای ته ورسېد خپلې ناوه اغېزې يې په پولي او مالي مرکزونو اړولي و. کله چې بي سي سي آی وتړل شو د خپلو قرضدارانو او حسابدارانو څخه ۱۱ میلیارده قرضداره و. نو ځکه سېنګاپور له دې بحران څخه بچ شو. چې موږ حاضر نه شو هغه منلي شوي معیارونه د مصلحتونو او انډیوالۍ قرباني کړو.

د سېنګاپور د پیسو اداره د بروناي ملي بانک وړاندیز هم رد کړ. دا بانک د یوه مشهور چینایي چې سېنګاپور کې مېشت و او کوتیک پات نومېده، اداره کېده. کوتیک پاټ د بروناي ملي بانک واخیسته او په ۱۹۷۵ کال کې د سلطان بروناي ورور، شهزاده محمد بولیکا چې د بانک رییس و دې ته مجبور کړ چې د سېنګاپور پولي اداري څخه یو وړاندیز وکړي ترڅو د هغه بانک د فعالیت جواز وکړي. څو میاشتې وروسته، یو بل مکتوب موږ ته خبر راکړ چې د شهزاده محمد بل ورور چې سوفري بولیکاه د یاد شوي بانک د اجراییه ریاست معاون ټاکل شوی دی. تر هغه ځایه چې کوتیک د بورناي شاهي کورنۍ لخوا حمایه کېده د سېنګاپور د پیسو ملي اداري خپله وروستۍ پرېکړه ما ته راواستوله. ما د سېنګاپور د پیسو اداري دهغه بانک د درخواستۍ د رد څخه خپل ملاتړ وکړ. او دا پرېکړه مې یو ځل بیا په ۱۹۸۳ کال، کله چې بانک نوې غوښتنلیک ورکاوه وکړه، تکرار مې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان په ۱۹۸۲ کال کې دیوه بېړني فرمان له مخې د بروناى ملي بانک د تړلو امر صادر کړ. د بانک په قرضو کې د درغلیو او بې نظمۍ فکر کېده، چې نژدې ۱۳ میلیارده ډالره کېدل، د خلکو د خپلو حسابونو د راویستو لپاره پر بانک ورغلل. څرکنده شوه چې ښاغلي کوتیک ددې بانک پیسې پخپلو شخصي کارونو له هغو څخه د لندن بانک د اکثریت مدیرانو د ونډو اخیستل او نوره ناسمه ګټه یې ترې اخیستله. دهغه مشر زوی چې د بانک رییس و په بروناى کې بندي شو، د سینګاپور بانکونه، په ځانګړي ډول بهرني بانکونو ۴۱۹ میلیونه ډالر د بروناى ملي بانک ته قرضه ورکړې وه. ښاغلي کوتیک له دوه کالو وروسته وکړاى شول چې یاده قرضه بیا ورکړي.

د سینګاپور پولي اداري د (ګاه بینګ سینګ) تر مشرۍ لاندې وکړاى شول چې د سینګاپور مالي نظام او موسساتو باندې قوي څارنه وکړي ترڅو د نړۍ یوه پولي او مالي مرکز په توګه را څرګند شي او مرسته وکړي.

د سینګاپور پولي اداري څلور واړه بانکونه وهڅول چې نور واړه سیمه ییز بانکونه وپېري او ځان سره یې مدغم کړي. ترڅو لوى او ځواکمن شي او وکړاى شي د نړیوالو لویو بانکونو سره سیالي وکړي. (موډي) د امریکا د مالي شرکتونو د درجه بندۍ دفتر، زمونږ څلور بانکونه د وړتیا او د پانګونې میزان له مخې د نړۍ په غوره بانکونو کې شمېرلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه **۱۹۸۵** کـال کـې د سـېنګاپور پـولي اداره اړه شـوه د بحـران پـه مدیریت چې د ونډو پـه بـازار کې راغلی و مرسـته وکړي. قضـیه داسې وه چې د ونډو محتکرین، پـه ځـانګړي ډول د تـان کـون سـوان شـرکت د Pan Electric Industries ltd شـرکت ونـډې او د نـورو مـالیزیـایي شرکتونو، په بـازار کې د هغـوی د بیو نـه پـه لـوړ قیمت د ضـمانت پـه ډول زمور د ونډو شرکتونو سره په امانت پر ایښي وو.

او ژمنه یې کړې وه چې په ټاکلي تاریخ به هغوی په لوړ قیمت بیـا ځلي پېري. کلـه چې د ونـډو بیې رانښـکته شوې او د هغـوی پیسـې ختمـې شوې، هغه شرکتونو چې خپلې ونډې یې مور د قرضه ورکوونکو سره ایښې وې، ویې نشوای کړای د هغو ونډو پخوانی قیمت ترلاسه کړي. د سېنګاپور د اسعارو د بدلون بازار د دریو ورځو لپـاره وتـړل شـو، پـه عین حال چې د سېنګاپور پولي ادارې د څلورو لویو بانکونو سره **۲۴** ساعته کـار پیـل کړ او بېړنی صندوق یې رامنځتـه کړ. دا ۱۸۰ میلـون ډالري صندوق زیانمنو ونډه لرونکو د ژغورلو او د سېنګاپور د ونـډو بازار د مخنیوي لپاره رامنځته شو.

ښاغلي کوه بینګ سېنګ د سېنګاپور د اسعارو د تبـادلې بـازار (SES) دې ته جوړ کړ چې د بازار د سېستماتیک سقوط مخنیوی وکړي او د پانګوالو باور بیـا ډاډمن کړي. دا حالـت د سېنګاپور لپـاره ډېره پېچلې او خطرناک و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لپاره چې په راتلونکي کې ددې ډول پېښو څخه مخنيوی وشي، د ونډو صنعت قانون مو تعديل کړ او ونډو پلور شرکتونو د احتياط شرايط مو نور هم قوي کړل. دې چارې د پيرودونکو ملاتړ له ځان سره لوړ کړ، دې شرکتونو ددې پرځای چې خپلې پانګې لوړې کړي يو بل سره مدغم شول او په دې ترتيب يې خپل مالي توان ځواکمن کړ. موږ په سينګاپوري شرکتونو کې بهرنيانو ته د شراکت او ونډې اجازه ورکړه. ددې سربېره هغه شرکتونو چې ملکيت يې په بشپړ ډول د بهرنيانو په لاس کې و خو زموږ د اړتيا وړ مهارتونه او خدمات يې وړاندې کولای شول، په سينګاپور کې مو ورته د فعاليت جواز ورکړ. زموږ د همدې مدبرانه اقداماتو په سبب و چې د سينګاپور د ونډو بحراني بازار چې په ۱۹۸۷ د اکتوبر په ۱۹ نېټه د نړۍ د ونډو په بازار را نازل شوی و موږ وکړای شو چې له دې کړکيچ څخه په بريالۍ توګه ځان وباسو. دا ورځ چې د تورې دوشنبې په ورځ مشهوره شوې، د نړۍ د ونډو بازار سقوط وکړ او د هانک کانګ د ونډو بازار مجبور شو چې د څلور ورځو لپاره بند او وځنډوي. خو د اغېزمنو مقرراتو او د سېستم ثبات، د سينګاپور د ونډو بازار هېڅ ډول زيان ونه ليد.

يو بل پرمختګ چې د سينګاپور د پولي مرکز په نصيب شو هماغه د سينګاپور نړيوال پولي بازارس ( Singapore International Monetary Exchange ) جوړېدل و. د سينګاپور د سروزرو بازار په ۱۹۸۴ کال کې خپل معاملات پراخه کړل. دا ډول معاملات د (Gold futures ) په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادبدل، دا نوی پرمختګ راتلونکی هم ډاډمنوي. په پایله کې د سېنګاپور د سروزرو بازار نوم د ( سېنګاپور نړیوال د پیسو بازار SIMEX ) باندې بدل شو، د نړیوالو موسساتو د باور جلبولو لپاره، موږ د شیګاګو بازار په شان جوړ کړ، پدې بازار کې بیې په لوړ غږ اعلانېږي او د بازار د ټولو ګډونوالو تر غوږونو رسېږي. ددې سربېره موږ د شېګاګو د امتعه بازار متقاعد کړ، د متقابل حساب تصفیه له SIMEX سره ومني. دا کار ددې سبب شو چې سوداګري په دواړو بازارونو (سېنګاپور او شیګاګو ) کې ۲۴ ساعته دوام پیدا کړي. دې انقلابي طریقې پانګوالو ته اجازه ورکوله چې د اضعافي لګښتونو پرته په شېګاګو کې د قیمتي اسنادو معاملې پیل او په سېنګاپور کې یې پای ته ورسوي او یا ددې سرچپه، په سېنګاپور کې معامله پیل او په شیکاګو کې یې پای ته ورسوي.

د امتعه سوداګرۍ کمېسیون په متحده ایالاتو کې د راتلونکي قیمتونو پر بنسټ زموږ او شیکاګو ترمنځ دا قرارداد مناسب تشخیص کړ او د تاییدۍ ټاپه یې پرې ولګوله. د متقابل حساب د سېسټم تصفیه د SIMEX د جوړېدو راهیسې تراوسه د هیڅ ډول ستونزې پرته خپل فعالیت ته ادامه ورکوي، کله چې نېک لیسن د SIMEX د سوداګرو څخه د بیرینګز شرکت اړوند ، په ۱۹۹۵ کال کې یو احتکاري عملیات د نیکای راتلونکي څانګې له یوه میلیارد ډالرو ډېر زیان یې وکړ. که څه هم هغه د بیرینګز بانک د تباهۍ سبب شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د SIMEX نور غړي او پېرودونکي له دې ځايه له زيان سره مخ نه شول. چې دا چاره د دوی داخلي ثبات او ښه مديريت و.

په ۱۹۸۴ کال کې، SIMEX د ډالرو او يورو د راتلونکې ربع د قراردادونو سوداګري پيل کړه. دا سوداګري د ډېر ژر د راتلونکي ربع قراردادونو د اروپايي قرضو په پراخوالي سره دوام وکړ، په کال ۱۹۹۸ کال کې SIMEX د سيمه ييزو ونډو د قراردادونو سلسله، له هغوی څخه د جاپان د قيمتي ورقو ونډه، تايوان، تايلينډ او هانک کانګ لاسته راوړل. په ۱۹۹۸ کال کې د لندن چاپ د مالي او پولي نړيوالې مجلې د نړيوالو ونډو جايزه د سينګاپور SIMEX ادارې ته ورکړه.

ياده اداره د ونډو يوازيني بازار په اسيا کې و، چې دا جايزه يې د څلورم ځل لپاره لاسته راوړې وه. پداسې حال کې چې د تقاعدي صندوق پس اندازونو ، زمونږ مالي ذخاير او کلنۍ بوديجه مخ په ډېرېدو وه. داسې په نظر راتله چې د سينګاپور پولي اداره دا پيسې په اوږدمهاله لارو چې اعظمي ګټه يې لاسته راتلله، پانګونه کوله.

ما دا مسله د کېنګ سووی سره په منځ کې واچوله او له هغه نه مې هيله وکړه چې موضوع مطالعه کړم. له مطالعې وروسته، کېنګ سووی په ۱۹۸۱ کال د مې په مياشت کې د سينګاپور حکومت د پانګونې شرکت يا GIC تاسيس کړ. زه رييس، کېنګ سووی مرستيال او ځينې وزيران، ددې شرکت د مديره هيت غړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کېنګ سووي د اړيکو له لارې له ډېوډ راوتشایلډ، مورډ روتشايلډ او زامنو شرکت د GIC د مشاورينو په توګه وګمارل. دې شرکت خپل يو کارپوه زمونږ په واک کې راکړ، ترڅو زمونږ د پانګونې شرکت په خپو ودروي. ددې سربېره مونږ يو شمېر امريکايي او انګليسي مديران وګمارل. دې مديرانو، هغه سيستمونه چې د پانګونې لپاره په بېلا بېلو برخو کې ورته اړتيا وه، رامنځته کړل. د مشرۍ لپاره د شرکت د مديريت ټيم، يانګ پونګ هاو( Yong pung How ) د GIC شرکت د عامل مدير په توګه مقرر کړ. نوموړي جيمز ولفينسن چې وروسته د نړيوال بانک رييس شو، په ياد شوي شرکت کې د پانګونې ستراتيژۍ د سلاکار په توګه وګماره، دې متخصصو اشخاصو په تدريجي ډول سينګاپوري متخصصين وروزل چې د سينګاپور د پولي اداري څخه GIC شرکت ته انتقال شوي وو. ددې ډلې په سر کې، نګ کاک سانګ او تی کاک پينګ حضور درلود. د ۱۹۸۰ کلونو په پای کې اينډو او تيم د پانګونې د فعاليتونو کليدي او مديريتي مسوولیتونه پرغاړه واخيستل او نورو بهرنيو کارپوهانو ته اړتيا نه وه.

په پيل کې GIC يانې د سينګاپور حکومت د پانګونې شرکت، د حکومت د مالي زېرمو مسووليت پر غاړه درلود. په ۱۹۸۷ کال کې، ددې موسسې ظرفيت دومره کچې ته لوړ شوی و چې کولای يې شول د د سينګاپور د پولي کمشنرانو بورډ او د سينګاپور پولي اداري د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږدمهالـه زېرمـې هـم پـر غـاړه واخلـي. پـه ۱۹۹۷ کـال کـې GIC پـدې وتوانېدلې وه چې د ۱۲۰ میلیونـو ډالـرو مـدیریت پرغـاړه ولـري. د GIC اداري مهمه دنده دا وه چې زموږ پـانګونې د خصوصـي شـرکتونو ، د پرمختللو دولتونو قرضې، او نقدې پیسې تعبیه او وویشي.

پدې کې شک نشـته چې ډېرې کتابونـه وجود لـري، چې اصول او د بازارونو کړندلاره روښانوي. خو دا کتابونه داسې نشـي کـولای چې د راتلونکـو بیـو وړاندوینـه او یـا د ډاډمنـې ګټـې تضـمین زده کـړي. پـه ۱۹۹۷-۹۸ کلونو کـې د سـېنګاپور د پـانګونې دولتـي شـرکت کـولای شوای د الماني مارک پـه جیګېدو او یـا د ډالـرو پروړانـدې د جاپـاني ین د ټیټېدو سره په میلیاردونه ډالره ګټه ترلاسه کړي.

خو پدې کې شک نشـته چې پانګونـه کـې سـتونزې شـته، زمـا ترټولـو لویه موخه د پانګونې په برخه کې دا وه چې لـوړه ګټـه ترلاسـه کـړم. خـو هغـه څه چې مـا غوښـته دا وه چې د خپلـو سـپما حسـابونو ارزښـت او امنیت وساتم او مناسبه او عـادلانه ګټه ترلاسه کړم. د سـېنګاپور پـولي مرکز د هانک مرکز په نسبت د ډېرو مقرراتـو تـابع و. منتقـدین پـه دې اړه داسې لیکلي: په هانکانګ کې، پـه مشـخص ډول د قـانون توسـعه نده منع شوې. جواز لري؛ پداسې حال کې چې پـه سـېنګاپور کـې هغـه څه چې قانون یې اجازه نه ورکوي، منع شویدي. دې منتقـدینو دا هېـره کـړې وه چې هانکانـګ د انګلیسـتان د بانـک او بیـرغ د ملاتـړ څخـه برخمن و. سېنګاپور دا ډول یو ملاتړ نه درلود ؛ پداسې یـو حالـت کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سېنګاپور د هانکانګ غوندې ملاتړ نه درلود، په سختۍ يې کولای شوای چې د بازار د سقوط په صورت کې بيا ځلي خپل ځان جوړ کړي. سېنګاپور مجبوره و چې په لومړي قدم کې خپل شهرت پخپله او په خپلواک ډول ټينګ کړي. بهرنيو بانکوالو ماته ويل چې هرکله چې موږ د قيمتي پانګو د توليداتو په پېر او پلور، ددې نه مخکې چې په نورو بازارونو کې هغوی ته اجازه ورکړو، د سېنګاپور بازار په نور هم چټک پرمختګ وکړي. ما دې ډول توصيو ته په ځيرتيا سره غوږ نيوه، خو د اقدام يا مداخله مې نه کوله؛ ځکه چې زما لومړيتوب دا و چې تر هرڅه مخکې موږ بايد خپل شهرت ديوه با اعتباره او يوه سالم مالي مرکز په توګه خپل باور تثبيت کړو او ددې چارې لپاره موږ ډېر وخت ته اړتيا درلوده.

له دې نه ورسته چې په کال ۱۹۹۰ کې مې د لومړي وزير پست پرېښود، ډېر وخت مې د بانکي سکتور سره په بوختيا کې تېراوه او پدې برياله شوم چې د سېنګاپور بانکونو سره ډېره تګ راتګ ولرم. ددې بانکوالو څخه يو يې ليم هوکي نومېده، هغه په سېنګاپور کې د يوه بهرني بانک مدير و او يو زيرک سړی و چې د بهرنيو اسعارو په برخه کې يې ډېرې برياوې ترلاسه کړې وې. هغه زه وهڅولم چې د خپل مالي بازار سياست باندې بيا کتنه وکړم.

ليم هوکي څرګنده کړه چې زموږ د بازار سياستونه زموږ د اړتياوو څخه پورته وو او ددې سبب شو چې زموږ مالي مرکز ډېره پراختيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي او د نړۍ د پرمختللو مرکزونو کچې ته ورسېږي. د ۱۹۹۰ کلونو په منځ کې زه د یو شمېر لوړپوړو سېنګاپوري مدیرانو سره چې د شپړو نړیوالو موسسو مدیریت یې پرغاړه درلود ، هغوی سره مو لیدنې لرلې او د هغوی سره مو د نظرونو تبادله لرله، دې مدیرانو وویل چې ستاسې شرکتونه ډېره محافظه کاري کوي، د همدې محافظه کارۍ پربنسټ یې زموږ مالي دولتي مالي شرکتونه اضافي پیسې په بانکونو کې د امانت په ساتلي او د احتمالي زیانونو له ویرې په بدیل کې ډېر عاید نه درلود.

د بانکي مسلکي مدیرانو سره بحث او خبرو اترو له لارې دې پایلې ته ورسېدو چې زموږ شرکتونه کولای شوای د نړیوالو تجربو لرونکو مدیرانو څخه په سېنګاپور کې مېشت وو زموږ د پانګونې ګټه یې د ملاحظې وړ لوړه کړه. دې چارې زموږ زموږ د پانګه اچونې صندوقونو ته پراختیا ورکړه، چې زموږ مدیران سېنګاپور ته لا ډېرې پیسې وګټي، دا مدیران به پخپل وار بهر نه پانګونه جلب کړي.

زما نظر د څارنې پر ډول او بانکي کارکوونکو هغه وخت بدل شو چې په ۱۹۹۲ کال کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر (جورج شولتس) چې په هغه وخت کې د امریکا د یو تر ټولو لوی بانک جی. پي. مورګان J.P.Morgan غړی و ، زه یې د یادشوي بانک غړیتوب ته راوبللم. د جی پي مورګان د بانکوالو سره د مجلسونو له لارې او د هغوی د راپور ورکونې په غونډه کې ګډون چې په هرو شپږو میاشتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ترسره کېدله، موږ د هغوی د کار په اړه معلومات ترلاسه کړل چې هغوی څه ډول ځان نړیوالې بانکوالۍ ته چمتو کړی. ددې بورډ د غړو پوهې، تجربې او کاري ژمنتیا چې ټول مجرب بانکوال وو پرما یې ژور اغېز وکړ، د بورډ غړو ته د نظر او مشورې لپاره بریالي مدیران او پخواني سیاسي مشران د نړۍ مهمو اقتصادي سیمو ته بلل کېدل.

د سیمې څخه زما شخصي معلومات او پېژندنې د بورډ نورو غاړو ته کټور وو، د بورډ د نورو غړو شتون هم د هغوی د خپلو سیمو څخه د معلوماتو لرل او د تجربو د بورډ غړو بله کټوره چاره وه. د منځنۍ اسیا اروپایي او امریکایي هېوادونو سره زموږ ناستو زه دې پایلې ته ورسولم چې سېنګاپور نظر ځینو هېوادونو ته ډېر شاته پاتې دی.

د سېنګاپور دولتي پانګونې شرکت د رییس په توګه ما د بانکوالۍ د چارو په اړه یو سلسله بحثونه د لویو بانکونو لکه امریکایي، اروپایي او جاپاني مدیرانو سره درلودل. ددې بحثونو له لارې مې د نړۍ د بانکونو د راتلونکې لپاره د هغوی لید لوری پیدا کړ. همدارنګه موږ درک کړه چې د نړۍ د لویو بانکونو په پرتله د سېنګاپور بانکونو ته لاره اوږده ده، چې هغه حد ته ورسېږي. د رهبرۍ بورډ غړو او همدارنګه د سېنګاپور بانکونو اجراییه مدیران اکثره د سېنګاپور له وګړو څخه تشکیل شوي وو.

ما دا مطلب د سېنګاپور د درېو لویو بانکونو له رییسانو( د ورای ابحار چین د بانکوالۍ شرکت، دورای ابحار متحد بانک او دورای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابحار بانک ) سره شریکه کړه، د هغو ځوانانو څخه چې هغو یې په دې اړوند موږ ته وړاندې کړل، ما وموندله د هغوی د نړۍ د بانکي ګوابښونو او راتلونکي په اړه خبر نه دي.

ما سینګاپوري بانکونو ته ګوابښ وکړ نن یا سبا سینګاپور د متحده ایالاتو سره ددوه اړخیزو تړونونو په پایله کې یا د نړۍ د سوداګریز سازمان سره په هوکړو کې مجبور شي چې د بهرنۍ بانکوا له لپاره خپلې دروازې پرانیزي او هغه ملاتړ چې سیمه ییزو بانکونو ترې درلود لغوه اعلان کړي. په ۱۹۹۲ کال کې یې پرېکړه وکړه چې د سینګاپور د بانکوا له زوړ قالب مات کړم، دې پایلې ته د سیدلی وم چې د سینګاپور بانکونه نوی لیدلوری او ریفورم او بهرنۍ وړتیا ته اړتیا لري. فکر مې وکړ، که د سینګاپور درې لوی بانکونه پدې اړوند کوم کار ترسره نکړي. د سینګاپور پرمختیایي بانک (Devolopment Bank of Singapore ) چې دولت پکې ونډه لرله باید د بدلون او نوښت لپاره لاره پرانیزي. له یوه مناسب شخص د پلټنې وروسته په ۱۹۹۸ کال کې د سینګاپور پرمختیایي بانک( جان اولډز ) چې د (جی. پي. مورګان بانک ) د مدیرانو څخه یو په کارپوه او مسلکي مدیر و او د هغه بانک د پرېښېدو په حال کې وګوماره، هغه د بانک د رییس د مرستیال او عامل پلاوی په توګه دنده پیل کړه، زموږ موخه داوه چې د سینګاپور پرمختیایي بانک د اسیا په بازار کې پر یو پرمختللي بانک بدل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د دریو کالو په اوږدو کې پرلپسې ډول (کوه بېنګ سېنګ) د سېنګاپور بازار ته د بهرنیو بانکونو له لاسه یې ملاتړ کړی و، خو اوس پدې نظر وم چې بلاخره هغه وخت رارسېدلی چې پرېږدو د نړۍ ځلور لویو بانکونو لوبغاړي دې ته مجبور کړو چې یا د خپلو خدمتونو په نویو کولو تېر کړو یا په بازار کې خپله ونډه کمه کړو. ما له دې ګواښ څخه خبر درلود چې ممکنه وه زموږ بانکونه ونشوی کړای بهرنیو بانکونو سره سیالي وکړي او په پایله کې به له منځه ولاړ شي، پدې صورت کې به زموږ دا سې سېنګاپوري بانک درلود چې د بحران په حالت کې پرې اتکا وکړو، په تدریجي ډول دې پایلې ته ورسېدو چې کوه. بېنګ. سېنګ د سېنګاپور د پولي اداري مرستیال ددې وړتیا نه درلوده چې د نړۍ د بانکوالۍ صنعت سره یو شان ولاړ شي. هغه له حده زیات دداخلي پانګوالو د ملاتړ په فکر کې وو، ما پدې برخه کې د (جرالډ کوریګن) د نیویارک فډرال ریزرف بانک پخواني مشر او د براین کووین د انګلینډ بانک لوړپوړی مامور سره مشوره وکړه.

هغوی هر یوه په جلا جلا ډول ماته مشوره او ډاډ راکړ چې سېنګاپور کولای شوای چې دې خوا یې د بانکوالۍ ځواک او د څارنې سېستم پرځای وي لرو له بلې خوا له بحران څخه د ناکامۍ څخه وژغورل شي.

هغه ماته وویل چې د نړۍ عمده مالي مرکزونه لکه د نیویارک او لندن پدې امر تمرکز نه کوي چې پانګوالۍ په فردي ډول ملاتړ وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې د هغوی موخه دا وه چې د خپل سېستم ثبات او سلامت وساتي. کوريگن وکووين موږ پدې مجبور کړو چې هغه موسسات چې زموږ د پرمختګ لامل ګرځي باید ترې ډېره وډېره ونلرو. په کال ۱۹۹۷ کال د لومړي وزير په اجازه ښاغلي(لونګ) يې پدې کار وګوماره، زموږ د بانکونو او د پانګونې د صندقونو د مديرانو د مديرانو سره ليدلي او زموږ د مالي سکتور کړندلارې يې يادې کړېدي. هغه وخت چې په ۱۹۹۸ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه لومړي وزير (لونګ) يې د سېنګاپور د پولي ادارې د رييس په توګه وګوماره هغه د اړينو ګامونو په اخيستلو سره د بانکوالۍ په سېستم کې اصلاحات راوستل.

لونګ د سېنګاپور د پولي ادارې د ځينو کليدي مامورينو په مرسته د ادارې د جوړښت له مخې نوې کړه او هغوی يې دې ته چمتو کړل ترڅو د کارنوی طرز او د ادارې د پرمختګ لپاره عملي لارې چارې پلې کړې. لونګ او ټيم يې د سېنګاپور د پولي ادارې نظارتي طرز ته بدلون ورکړ هغوی دا کار په نرمښت او انعطاف سره ترسره کړ او د خپلو کړنو په طرحه او تطبيق د بانکي صنعت د اړوندو نظرونو سره په پام کې ونيوه، لونګ او ملګرو يې د خپلو مشاورينو په پام کې نيولو سره او د بانکي صنعت د کمېټو سره د سېنګاپور د بانکوالۍ ټولې پاليسي ګانې يې تربيا کتنې لاندې ونيولې او هغه يې د نويو شرايطو سره عيارې کړې هغوی د شتمنيو د مديريت په هڅونه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهم ګامونه پورته کړل او د سينګاپور ډالر لوړولو مقررات يې د پانګونې بازارونو د پراختيا په موخه تعديل کړل.

د سينګاپور پولي ادارې د ونډو بازار د کمېشن نرخونه ازاد کړل او د Stock Exchange of Singapore او Sim Exinternation monetary exchange يې وهڅول چې يو بل سره مدغم شي.

د سينګاپور پولي ادارې بهرنيو بانکونو ته اجازه ورکړه چې خپلو څانګو او د نقديه ماشينونه په سينګاپور کې پرانيزي.

له دې لارې به کورنۍ بانکي سکتور به ازاد شي. هغه محدوديتونه چې د بهرنيو بانکونو پر وړاندې وضع شوي وو له منځه يوړل شول او د بانکونو څخه هيله وشوه چې د ورته ترتيباتو پر بنسټ خپله مديران دې د امريکايي بانکونو پشان د مديرتونو نوم اېښودنه ترسره کړي. دې کمېټې دنده لرله چې د هغو کسانو پخواني اسناد چې د مديره پلاوي غړيتوب ته نوماند شوي د مطالعې او ارزونې لاندې ونيسي او خپلې سپارښتنې ونډه والو ته وړاندې کړي.

د دې کمېټې موخه داده چې مديريتي پوستونو ته وړ، باکفايته، صادق او په کار پوه اشخاص وګوماري. چې نه يوازې ځينو بلکې ټولو ونډه والو ته ګټه ورسوي. بانکونه پدې باور وو چې نرم نظارت طريقه به هغوی ته اجازه ورکړي چې نوي قيمتي اسناد بازار ته معرفي کړي. د هغوی نظر به هغه وخت ډېر ګټور وای چې دا کار يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې کړی وای. ولې مخکې له دې چې د سينګاپور پولي اداري خپله ورتيا په مالي بحرانونو کې ثابته کړې ده، ما تر او سه دا باور نه و ترلاسه کړی هرهغه چې منع دي ونډه اخيستونکو ته يې اجازه ورکړو، هغه احتياطي لاره چې موږ په مخکې نيولې وه په هماغه اساس مو د ۱۹۹۸ کلونو مالي بحران په اسانۍ او ښه شکل سره تېر کړل.

د دې بحران د پېښېدو په وخت کې زموږ بانکونه د شې مالي روغتيا څخه برخمن وو، دا بحران زموږ د ونډو د بازار د سقوط سبب نه شو. د ۱۹۸۲ کال نه ياني له هغه وخت څخه چې موږ د خپل اسيايي ډالري بازار پيل کړ، تراوسه يې درې کاله وخت ونيوه، موږ وکړای شول د سالم مديريت سره خپل باور د يوه نړيوال پولي مرکز په توګه ثابت کړو، د ۱۹۹۷ کال د جولای مياشت نه وروسته، ياني هغه چې د (باټ) د تايلينډ پيسو ارزښت د سقوط په پايله کې شرقي اسيا د مالي بحران سره مخ شوه، د سيمې په اقتصاد او د ونډو پر بازار يو لوی مصيبت نازل شو.

خو د دې مالي کړکېچ سره سره په سينګاپور کې هېڅ بانک د مالي بحران سره مخ نشو. د دې بحران په پايله کې نړيوالو پانګوالو هڅه کوله چې خپلې پيسې د سيمې د بانکونو څخه وباسي چې سينګاپور هم پکې شامل و، په بحراني حالاتو کې هغه وخت چې د پانګه اچونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صندقونو مدیرانو له مالي کړکېچ څخه وېره لري خپل مشتریان او پېرودونکي په تیاره او بې خبرۍ کې ساتل عاقلانه کار نه دی.

نو پدې توګه موږ پرېکړه وکړه چې ژر تر ژره خپلو پیرودونکو ته لومړني معلومات ورکړو ، تر څو خپل مشتریان پدې قانع کړو چې زموږ د پانګې اچونې په اړه زموږ مشتریان زموږ په اړه سم قضاوت وکړي. موږ خپل بانکونه وهڅول ترڅو د خپلو پټو زېرمو په اړه معلومات او د خپلو مشتریانو په اړه دروغ معلومات ورنکړي. هغوی عمومي شرایط سیمه ییزو قرضو لپاره عامو خلکو ته وړاندې کړلې، د اغېزمنو کړنو په پایله کې د سېنګاپور پولي ادارې نه یوازې دا چې بحران او سقوط سره مخ نه شو بلکې له نوموړې اداره له پخوا نوره هم ځواکمنه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کارګري ټولنو د مرستو جلبول

د (سیح. موی. کوک) د کاریګرو د ټولنې مشر او د ولسي جرګې غړی، همدارنګه د خلکو د عمل ګوند غړی هم و ، له هغه وخته چې د کاریګرو د ټولنو سره همکار وم ماسره ملګری و. هغه د ازادۍ او اخلاص لاس په اړه چې موږ کاریګرو ته د ګومارنې پر محال ورکړي وو نیوکه لرله، خو په عین حال وخت کې یې منله چې ټولنې د بهرنۍ پانګه اچونې لپاره د یوې مناسبې فضا د جوړېدو لپاره دې ته اړتیا ده چې د کاریګرو پر وړاندې نسبتاً یو نرم او غیر دښمنانه دریځ ونیول شي. ما ددې لپاره چې د کاریګرو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې څخه مخنیوی شوی وي، د کار او کاریګر قانون کې مې تضمین ځای پرځای کړ. هغه بدلونونه چې د ګومارنې او صنعتي اړیکو په قانون کې وارد کړل د برې بنې پایلې مو ترلاسه کړې.

د یوه کال په موده کې (۵۲) نوې فابریکې جوړې کړې او ۱۷۰۰۰ نوي کارونه پیدا شول. په ۱۹۷۰ کال کې نوې پانګونې ۲۰۰۰۰ کاري فرصتونه ایجاد کړل، همدارنګه په همدې موده کې ملي عواید هم ډېر لوړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۷۲ کال کې موږ د (مزد ملي شورا ) د ټولنو، دولت او کاريګرو په ګډون سره رامنځته کړه. دې شورا هر کال د هغو ارقامو او معلوماتو څخه چې د دولت لخوا راټولېدل، د مزد کچه، د کاريګرو کاري شرايط مو راتلونکي کال لپاره برابرول. چې له يوې خوا د کاريګرو لپاره د منلو وړ وي، او له بلې خوا په هېواد کې اقتصادي وده تضمين او وهڅوي. د دې شورا توصيو د عمومي لارښوودونو په بڼه کار ورکاوه، او اجازه يې ورکوله چې د کاريګرو او کارفرمايانو ترمنځ د اقتصادي سکتور په بېلابېلو برخو کې په مختلفو پايلو ترسره کېدې. د هماغه لومړنيو کلونو څخه کوه دوی پدې باور و چې د کاريګرو مزد بايد د توليد د ګټې څخه ډېر نه وي.

په سينګاپور کې د بحراني روحيې (د خپلواکۍ په لومړي کال) حاکم و، زه يې دې ته وهڅولم چې د کارګرو ټولنو چلند په څو کلونو کې تغير کړم، د خلکو روحيې پدې تر اغېز لندې راغلې وې چې ګوندې د سنګاپور اقتصادي سقوط ګوابس د برتانيې پوځونو د وتو له سببه و. د خلکو روحيه دې ته جوړه شوې وه چې که چېرته موږ له تاوتريخوالۍ او اعتصابونو ته د پای ټکی کېښږدو نو او اقتصادي ودې او ملي ثبات ته لاره هواره نکړو نو خلک او هېواد به مو له لوی ګوابس او ناورين سره مخ شي او له منځه به لاړ شو.

په عين حال کې د اقتصادي چارو مديران او د کمپنيو خاوندان مو پدې قانع کړل چې هغوی بايد د کاريګرو رضاکارانه مرسته را جلب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. پرته له دې د مولدیت ډېرښت (چې د پرمختګ کلید جوړوي) نشي کولای بریالی شي.

سخت قوانین او ګواښوونکې خبرې، یوازې نشي کولای د تولید پر ډېرښت اغېز وکړي، دا زموږ سیاستونو پایله وه چې د کارېګرو ټولنې مو دې ته اړ کړې چې زموږ د پلانونو ملاتړ وکړي. هغوی پدې پوه شوي و چې زموږ د اقتصادي سیاست موخه داده چې سېنګاپور په نړیواله کچه یو با عزته او با اعتماده اقتصادي بریالي هېواد په توګه پیاوړی کړو، بهرنۍ پانګه اچونه جلب کړو او خپلو خلکو ته دندې او د کارځایونه جوړ کړو. نو دا چاره سبب شوه چې زموږ ترمنځ د ضدیت او بې ځایه رقابت پرځای د همپالنې او مرستې فضا رامنځته شوه.

په کال ۱۹۶۹ کال کې، زما یو پخواني اشنا، دیوان نایر زما د هڅونې په سبب، له کوالالامپور څخه سېنګاپور ته راستون شو او د NTUC یانې د سېنګاپور د کارېګرو ټولنو ملي کانګرېس په ذمه واخیست، هغه د ۱۹۶۴ کال څخه را پدېخوا هغه کال چې هغه د مالیزیا پارلمان ته وټاکل شو. هلته یې ژوند کاوه، هغه علت چې نوموړی ما سېنګاپور ته راوسته، غوښتل مې چې نوموړی زموږ صنعتي اړیکو ترمنځ سوله او ارامښت وساتي او کارېګر وهڅوي تر څو د خپلو کارونو اغېزمنتیا او نوښتونو ته پراختیا ورکړي. د NTUC د سکرتر جنرال په توګه د (دیوان نایر) موجودیت زما لپاره لویه مرسته وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زما اقتصادي کړندلارې منظمې او همغږې کړې او د کاريګرو ټولنو سره يې رغوونکې، هڅوونکې او مثبت چلند کاوه، د NTUC پخوانۍ رهبرۍ سره د ۱۹۷ څخه تر ۱۹۸۱ کلونو پورې هغه وخت چې پارلمان نوموړی د ولسمشر په توګه وټاکه، هغه وکړای شو د کارګرانو مشران قانع کړي، ترڅو خپلې غوښتنې د نړيوالې سيالۍ سره سمې عيارې کړي او هغو طرحو چې د سينګاپور قدرت يې په نړيواله کچه کمزوری کاوه، ترې ډډه وکړه، هر وخت چې وينسميوس له سينګاپور څخه ليدنه کوله، هغه او د اړيکو مامور يې نيم.تينګ دو به د اقتصادي حالت په اړه د معلوماتو د ېوان ورکاوه، د ېوان؛ د اقتصاد بنسټيز ارونه د کاريګرو ټولنې مشرانو ته زده کوه او د د مزدونو درې اړخيزې شورا سره به يې مرسته کوله.

يوه مسله چې د ېوان ورسره مخ شو، هماغه د کاريګرو د غړيتوب د شمېر کمېدل و، ځکه د وخت په تېرېدو سره د کاريګرانو ټولنو مبارزاتي روحيه لږېدله او دې چارې په يو ډول ددوی د غړيتوب نه لېوالتيا ښوولة. د غړيتوب د کمښت د مخنيوي لپاره د ېوان په ۱۹۶۹ کال کې يو سمينار جوړ کړ او په هغې کې يې د کاريګرو د استازي پدې قانع کړل چې د کارګرۍ په نوې فضا سره پخپلو چارو کې بدلون راوړي.

دې موخې ته د رسېدو لپاره د څو کوپراتيفي شرکتونو د کاريګرو ټولنې يې رامنځته کړې. په ۱۹۷۰ کال کې NTUC کوپراتيف د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینګاپور ټیکسي ګاني د NTUC Comfort تر نامه لاندې یې بنسټ رامنځته کړ. دا چاره ددې سبب شوه ترڅو له یو شمېر ټیکسیانو څخه چې د ۱۹۲۰ کلونو په اوږدو کې د جواز او غړیتوب پرته کار کاوه دا پروګرام د ۲۰۰ موریس اکسفورډ دوله ټکسي ګانو او د ۲۰۰ انګلیسي استېین ډوله بسونو چې د انګلیستان په مالي مرسته اخیستل شوي وو پیل شو.

د ۱۰۰۰۰ ټیکسیانو او ۲۰۰ د ښوونځیو سرویسونو په درلودلو سره دې ټولنې په ۱۹۹۴ کال کې د Comfort Group limited تر نوم لاندې د سینګاپور د ونډو په بازار کې د یوه سوداګریز شرکت په توګه ثبت شوه.

د کلیدي غړو د لګښتونو د کمښت لپاره د NTUC په کال ۱۹۷۳ کې یې د NTUC Welcome شرکت د بنسټ ډبره کېښوده. ددې کوپراتیف، ستر پلورنځی، هټۍ او مغازې پرانیستلې چې د NTUC مغازې توکي نظر د بازار نرخونو ته ارزانه ترلاسه کولای شول، وروسته نوموړی کوپراتیف د NTUC fair price په یو لوی سوداګریز سوپر مارکېټ بدل شو او بېلابېلې څانګې یې لرلې چې د توکي یې د عمده پلورنځیو پر بنسټ ارزانه ورکول. بل کوپراتیف چې د NTUC د غړو ژوند او روغتیا یې بیمه کول او د NTUC income په نوم یادېده، وروسته یې د موټر او نورې بیمې هم زیاتې کړې، دې کوپراتیف مسلکي او په کار پوه مدیران په کار وګومارل. دې تجربې د ټولنو مشرانو ته دا ورزده کړه چې څنګه یو سالم او اغېزمن اقتصادي مدیریت ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منصفه ټولنه، نه جیره خوړونکې ټولنه

موږ په سوسالیزم، یانې په ټولنه او اقتصاد کې د خلکو عادلانه ونډې باندې باور لرو، وروسته پوه شو چې په یوه تولیدي اقتصاد کې شخصي انګېزه او انفرادي رول رغنده او ټاکوونکی رول لري. خو د خلکو وړتیاوې بېلابېلې دي، که د کار پای په بشپړه ډول د بازار تابع جوړ شي، وضع به اخر دې حالت ته راشي چې په پایله کې به یې ډېر لږ خلک به یې لوی ګټونکي وي، ځینې نور به منځنې ګټونکي او ځینې به د ملاحظې وړ په بایلونکي کټګورۍ کې وو.

دا حالت به طبعاً په ټولنه کې د ګډوډۍ سبب شي، ځکه چې په ټولنه کې به د عدالت خوښۍ وجدان ته زیان ورسوي. رقابتي ټولنه کې چې په هغه کې ګټونکي او بریالي خلک د هرڅه درلودونکي وي او بایلونکي خلک هرڅه له لاسه ورکړي. یانې د هانک کانک د ۱۹۲۰ کلونو پشان ټولنه، د سینګاپور لپاره د منلو وړ نه وه. هغه مستعمراتي حکومت چې له بهره ورته هدایت کېده اړ نه و چې هر پنځه کاله وروسته ټاکنو سره مخ شي، خو د سینګاپور حکومت له داسې یو حالت سره مخ و، د افراطي توپیرونو د هوارولو لپاره لکه د ازاد بازار، موږ مجبور و چې د ملي عایداتو په بیا وېشلو لاس پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو، او د سبسیډۍ ورکولو له لارې خپلې چارې پیاوړې کړو چې تولیدي وړتیا او د وطنوالو عایدات یې لوړول.

د هغو چارو په سر کې چې د وطنوالو تولیدي قدرت یې لوړوه، هغه ښوونه او روزنه وه، د اوسېدو مېنې او د روغتیایي خدماتو وړاندې کول هم پدې برخه کې د خپل اهمیت څخه برخمنې چارې وې. خو د شخصي روغتیایي خدمتونو او د تقاعدي امتیازاتو لپاره لپاره د حل لارو کتل څه اسانه کار نه و، موږ ټولو دې چارو ته د عملي لیدلوري له مخې چلند کاوه، که موږ د عایداتو په وېش او د مالیو په اخیستو کې افراط کړی وی، هغه فعال او بریالي خلک چې شتوالی یې زموږ اقتصادي ودې لپاره کلیدي اهمیت درلود، ناهیلي کېدل او د خپلو چارو څخه کېدل. موږ د یوې بلې ستونزې سره چې مخ وو هغه داوه چې څرنګه د اقتصادي غښزمنتیا او د عایداتو عادلانه وېش په منځ کې او له بلې خوا مناسب او د منلو وړ عدالت تامین کړو.

زما د فکر یوه لاره داوه چې د سېنګاپور هر اوسېدونکی د خپل هېواد راتلونکي جوړولو لپاره برخمن کړم. زه دداسې یوې ټولنې غوښتونکی وم چې هر غړی یې کور او سر پناه ولري. مه هغه تو پیرونه چې ددولت اړوند د ټیټو اجارو او شخصي کورونو ترمنّځ موجود و لیدلي و. هغه ودانۍ او اپارتمانونه چې ددولت لخوا هغو خلکو ته ورکول کېدل چې عاید یې ټیټ و، په ارزانه بیه په اجاره ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېده، د نړېدو او خرابېدو په حال کې وو. خو د شخصي اپارتمانونه به تل پاک ساتل کېدل.

دې پرتلې زه پدې باوري کړم وم چې کورنۍ هروخت د خپلو کورونو خاوندان اوسي. هېواد به څو ځله تردې باثباته وي، له دې نه ورسته چې موږ د ۱۹۶۳ کال ټاکنو کې بریالي شو، ترهغې چې سینګاپور لا د مالیزیا یوه برخه وه، ما د پرمختګ او استوګنې بورډ پرانیسته، چې د خصوصي مالیکیت د پراختیا پروګرام اعلام کړي. موږ نوموړی بورډ په ۱۹۶۰ کال کې د قانون په چوکاټ کې جوړ کړی و، ترڅو د د کاریګرو لپاره ارزان قیمتې ودانۍ جوړې کړي. د پرمختګ او استوګې بورډ په ۱۹۶۴ کال کې د کور پېرودونکو ته قرضیې ورکولې چې په ټیټو بیو او د ۱۵ کالو کښت سره ملګري وو. خو دا پروګرام بریالی نشو، ځکه هغه چاچې د کور د اخیستلو لپوالتیا لرله، ددې پروګرام په چوکاټ کې اړو چې ۲۰ سلنه د خرید بیه د قرارداد د لاسلیک مهال په نقدي ډول ادا کړي.

ډېری داسې پېرودونکي موجود و چې ددې وسه یې نه درلوده چې دغه ۲۰ سلنه پیسې ورکړي. د خپلواکۍ د ترلاسه کولو وروسته هغه څه چې زه یې نا ارامه کولم دا وه چې رایه ورکوونکي په بشپړ ډول د ښار داوسېدونکي څخه تشکیل شوي وو. زما مشاهداتو څرګندوله چې څه ډول د ښاریان تل د حکومت په مخالفت کې رایه ورکوله، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې موخه مې پرېکړه وکړه چې د سېنګاپور کورنۍ د کورونو خاوندان کړم، پرته له دې به ثبات ته رسېدل اسانه کار نه و.

د استوګنځي پروګرام د طرحې په اړه زما نظر دا و چې د ځوانانو کورنۍ را وغوښتل شي چې عسکري خدمت په یو دود بدل شي، د سرتېري کورنۍ به خپل کور نه درلود، سرتېری به ژر تر ژره دې پایلې ته رسېده چې هغه د پانګوالو د شتمنیو څخه دفاع کوي، نه د خپل کور کلي څخه، زه پدې باوري وم چې د نوې ټولنې لپاره د مالکیت د داوې احساس چې زموږ په ټولنه کې یې ژرې ریښې نه درلودې، حیاتي ارزښت درولود.

د دې نظریې په پلي کولو کې کېنک سووي، د دفاع وزیر په تو ګه زما لوی ملاتړی و، نورو وزیرانو هم د کورونو مالکیت یو امر ګڼه خو پدې نظر نه و چې ګوندې مالکیت ډېر حیاتي ارزښت لري.

پر کثیفو او غیر روغتیایي ځایونو باندې د پخوانیو استوګنیزو ناحیو د بدلولو څخه مخنیوی

د دې لپاره چې پرېنږدو پخواني استوګنیز ځایونه پر چټلو او کنډوالو بدل شي، په ۱۹۸۹ کال کې مې د ملکي پرمختګ وزیر ته وړاندیز وکړ، چې د دې وخت رارسېدلی ترڅو پخوانۍ ودانۍ د حکومت د بودیجې څخه په ګټنې بیا ورغوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کيفيت يې تقريباً د نويو ودانيو تر حده لوړ کړو او پردې ورانديز مو هو کړه وکړه او يو شمېر يې بهر ته ولېږدول ترڅو پوه شي چې پخوانۍ ودانۍ څنګه ساتل کېږي، پرته له دې چې په هغه ځای کې کوم اوسېدونکي او سېدل ورته مزاحمت وشي. دې ماموريتو دا ډول بېلګې په المان، فرانسه او جاپان کې وموندل. د دې ماموريتو د موندنو پربنسټ د استوګنې پرمختګ بورډ په يو ننداره ييز پړاو سره د پخوانيو ودانيو پر بيارغونه پيل وکړ. پدې پړاو کې د استوګنې پرمختګ بوډ ، پرهر زاړه کور ۵۸۰۰۰ ډالره لګښت وکړ او نوموړو کورونو ته يې پخلنځي، تشنابونه او د کالو وينځلو کوټې جوړې کړې. د دې لګښت پر وړاندې د کور خاوند مسوولیت درلود چې ۴۵۰۰ ډالر استوګنيز پرمختګ بورډ ته تحويل کړي.

د پخوانيو ودانيو چارچاپېره او بهرنې د بوالونه بيا ورغول شول، ترڅو د نويو شخصي جوړشويو استوګنيزو کورونو په ستندرډونو سره برابر اوسي. چمنونه، شنې سيمې او د کورنيو لپاره سر پټې ځايونه له سره ورغول شول. په پايله کې دې بيارغونې د پخوانيو استوګنيزو کورنو قيمتونه ډېر لوړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقاعدي حقونه

یوه لویه مسله چې موږ ورسره لاس او ګرېوان و هماغه د کاریګرو د زړښت د وخت د تقاعدي حقونو تامین و.

په اروپا او امریکا کې دا حقوق د دولت لخوا وړاندې کېږي او د مالیه ورکوونکو لخوا تمویلېږي. موږ پرېکړه وکړه چې هر کاریګر باید پخپله خپله د زړښت د وخت سپما د CPFصندوق کې جوړه کړي، موږ په ۱۹۷۸ کال کې اجازه ورکړه چې نوموړی صندوق د پانګه اچونې موخو لپاره د شخصي صندوق په توګه د ګټې وړ وګرځي دهغه کال په پیل کې، حکومت د سینګاپور په ښاري سرویس په چوپړتیاوو کې اصلاحات راوستلي وو. ددې اصلاحاتو په تعقیب د سینګاپور د ښاري سرویس چوپړتیاوو د ونډو شرکت یا Singapore Bus Service LTDجوړ کړ او د ونډو په بازار کې یې ثبت کړ، په عین حال کې د CPF صندوق ګډونوالو ته مو اجازه ورکړه چې هر کس تر ۵۰۰۰ ډالرو پورې خپلې راټولې شوې پیسې ددې شرکت د لومړنیو توکو په اخیستو کې ولګوي.

پدې کار سره ما غوښتل ددې شرکت د ونډو مالیکیت څومره ژر چې کېږي ددې شرکت پر ځینو ګډونوالو ووېشم، ترڅو ګټه یې کاریګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـه ورسـېږي چـې پـه حقيقـت کـې يـې د ښـاري سـرويس د خـد ماتو مستهلکين پورې اړه درلوده.

دا چاره ددې سبب کېده چې د ښاري سرويس د خدمتونو د بيې پـه شـدت سـره لـه لاسـه ورکـولې او د دې خـد متونو اړتيـاوې دولتـي سبسيډۍ ته لږېدلې.

دې بريا پسې په GPF کې د راټولو شويو پيسو څخه ګټه اخيستل مـو ازاد کړل او اجازه مو ورکړه چې دا پيسې پـه سـوداګريزو او شخصـي صنعتي ملکيتونو کې د پانګه اچونې، د اعتباري شرکتونو ونډې او سروزرو په برخه کې ترې ګټه واخيستل شي. پـه هغـه صورت کـې چې ددې مشترکينو د پانګه اچونو ګټه هغه کولای شول خپله اضـافي ګټـه له صندوق څخه بهر کړي او مصرف يې کړي.

ددې احتمال لپاره چې د غړو د ټولو سپما حسابونه د مو له منځـه وړي وي. محافظتي لازم شرايط مـو پـه پـام کـې نيـول او پلـي کـول بـه مـو د ۱۹۹۵ کال په راتلو سره ۵،۱ ميليونه د سي پي اېف غـړي د سـېنګاپور د ونډو د بازار د لومړي طراز شرکتونو کې ثبت شول پانګونه کړې وه. په کال ۱۹۹۳ کې هغه وخت چې د سـېنګاپور د ټليکـام شـرکت ونـډې مو د لومړي ځل لپاره اشاعه کړې، د هغـوی ډېر شـمېر مـو پـه د بـازار څخه په ټيټه بيه په ټولو بالغو ښاريانو خرڅه کړه، زمـوږ موخـه لـه دې کار څخه دا وه چې زموږ مبالغ چې دولت د کلونـو پـه اوږدو کـې سـپما کړې وې بيا ځلي يـې پـه ټولنـه کـې وويشـل. مـوږ غوښـتل چـې زمـوږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد وګرځي د وطن د يو لوی شرکت د ونډو مالکان شي او د خپل هېواد په اقتصادي پرمختګ کې لوی رول ولوبوي.

ددې لپاره چې نقدي پيسې ترلاسه کړو، مورږ ونډه والو ته د بونس د ونډې د ترلاسه کولو حق ورکړ. دا امتياز د لومړي، دوهم، درېيم او شپږم ځل د تطبيق ورړوو چې په لومړي پړاو کې د ونډه والو ته ورکړل شوی وو.

پدې سره ونډه وال هڅول کېدل چې خپلې ونډې د ډېر وخت لپاره وساتي چې وکړای شي په نقدو پيسو يې خرڅ نکړي. دا کړندلاره ددې سبب شوه چې تر ۹۰ سلنه د سېنګاپور کاريګر د سېنګاپور د ټيليکام خاوندان شول. د ونډو په بازار کې د کاريګرو دا ډول ونډه اخيستل په اټکل ډول په نړۍ کې يو لوی شمېر دی چې وجود لري.

زما ليدنو دا څرګندوله هغه چا چې خپل شخصي کورونه لرل څو ځله ښه ساتل، نظر هغو ته چې په کرايه يې ورکړي وو.

له دې ليدنو څخه ماته پته ولګېده چې پر مالکيت د وياړ احساس د هر انسان طبعي غريزه ده. د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کلونو په ستونزو او لاريونونو کې عادي خلکو پراخ ګډون کړی و، دوی به کتارې ماتولې، دولتي تاسيسات يې تخريبول او موټرونو ته يې اور ورته کاوه، خو د ۱۹۶۰ کلونو په منځ کې ياني هغه وخت چې ډېری خلک د کورونو خاوندان شوي وو، په لاريونونو کې د خلکو چلند په بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول توپیر کاوه پدې کلونو کې مې ځوانان ولیدل چې خپل موټر سایکلونه یې د واټونو په پارکونو کې ودرولي وو، پخپلو اوږو یې خپل وسایل خوندي ځایونو ته لېږدول، دې چارې زه لا وهڅولم چې هره کورنۍ د فزیکي شتمنۍ خاوندانې کړم، زه پدې باور وم چې دا کورنۍ خپله شتمني د زړه له کومې ساتي، زما د باور سم والی په عمل کې ثابت شو. موږ پرېکړه وکړه چې د خپلې ټولنې شتمني د شتمنو د ډېروالي سیاست له مخې ووېشو، نه د سبسیډي د ډالۍ کولو له لارې، هغه لاره چې موږ پرمخ نیولې وه. هغوی چې د ازاد بازار په برخه کې یې نړیواله او په جایزه نه شوه ګټلی، اجازه مو ورکړه چې نورې با ارزښته جایزې د ازادې سیالۍ له لارې وګټلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په غرب کې د رفاهي پروګرامونو لګښتونه

د انګلیستان او سویډن د ورځنیو لګښتونو پروګرامونو ته په کتو موږ پرېکړه وکړه چې د دې ملا ماتوونکي سېستم څخه ځان وژغورو. په ۱۹۷۰ کلونو کې مو پام شو چې د دولت لخوا د کورنۍ د سرپرست د مسوولیتونو تقبل په خلکو کې د کاري انګېزې د ضعیف والي سبب کېږي. کورنیو ته نقدي او دوامداري مرستې، په ډېری برخو کې په ټکر کې وې او خلک یې لټۍ ته هڅول. دې ډول مرستو کورنۍ او افراد دې ته هڅول چې د خپل ځان او کورنۍ د هوساینې د کوښښونو څخه اوږې سپکې کړي. جیره خوراک ځینو ته د ژوند په طرز باندې بدل شو، د کاري انګېزې په کمښت سره مو اقتصادي حیثیت یو څه ناسم شو، ځینو نورو د خپلو عایداتو باندې د لوړې مالې له لاسه خپل کارونه له لاسه ورکړل، دې خلکو هم د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره پر دولت تکیه وکړه. موږ غوره پوه شو چې د پورته پروګرامونو پرځای پخپلو خلکو کې د کنفوسیوس دود ځواکمن کړو، ددې کړندلارې له مخې د کورنۍ هر مشر د خپلې کورنۍ د اړتیاوو د پوره کولو مسوولیت درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سینګاپور سیاستونو خلک ډېر کارته وهڅول

زموږ پالیسیو او کړندلارو خلک دې ته وهڅول چې خپله ټوله انرژي او قدرت په اغېزناک او ګټورو کارونو ولګوي. پولي ثبات، متعادله بودیجه او د پانګونې ټیټ مالیات او لوړ تولید یې وهڅاوه. ډېری کاریګرو د خپلو ۴۰ سلنه سپما حسابونو سربېره د اضعافي پس اندازونو خاوندان شول چې په بانکونو او پوسخونو کې یې ساتل.

دې ټولو سپما حسابونو دولت سره مرسته وکړه چې چې د بنسټونو جوړول پیل کړي. پدې لړ کې لاندې بنسټونه شامل وو:

- لارې
- پلونه
- هوايي ډګرونه
- بندونه
- د سوداګریزو مالونو بندر
- د برېښنا مرکزونه او د لېږد سټیشنونه
- د اوبو ذخیرې
- د عامه ټرانزیټ سیستم رغولو مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دولتي بې ځايه لګښتونو څخه مو مخنيوی وکړ او انفلاسيون مودومره کچې ته ټيټ کړ چې مجبور نشولو له بهره قرض واخلو.

د ۱۹۶۰ کلونو راپدېخوا د ۱۹۸۵ کاله پرته چې اقتصادي رکود سره مخ وو ، موږ همېشه په لوړ اقتصادي موقف کې وو ، د دولت مخارج په منځنۍ کچه ۲۰ سلنه ناسوچه ملي توليدات جوړول؛ دا رقم د G7غړو هېوادونو کې ۳۳ سلنه وو. له بلې خوا زموږ پرمختيايي لګښتونه مو د G7 غړو هېوادونو څخه څو ځله لوړ وو

په تېرې کلونو کې زموږ موخه داوه چې د خپلې عادي پرمختيايي بوديجې د ملاتړ لپاره کافي ګټه ترلاسه کړو او په عين حال کې د مالياتي جوړښت له نظره ، د خپلې سيالۍ قدرت د نړۍ په کچه خوندي کړو ، په ۱۹۸۴ کال کې د مالياتي عوايدو د مجموعې دوه ثلثه زموږ د مستقيم مالياتي عوايدو جوړول.

پداسې حال کې دا برخه د G7 غړو مملکتونو کې د درې څلورمې په حد کې وه ، موږ د ماليې له وضعې د مالې ورکړې پر لور حرکت وکړ ، په همدې وخت کې د شرکتونو ماليات له ۴۰ سلنه څخه ۲۶ سلنې ته راټيټ شو. سېنګاپور د پانګونې د ارزښت لوړوالی اداره يې له ماليې ورکړې څخه معاف کړه. زموږ ماليه د وسايلو خدماتو باندې چې د پورته د توليد اضعافي ارزښت VALUE ADDED TAX باندې ۳ سلنه موجوده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمــوږ پــر وارداتــو ګمرکــي مالیــات د ۰٫۴ ســلنې پــه حــد کــې وه، د انګلیسي سوسیالیستي فلسفې SOAKING THE RICH پر اساس، موږ پـه غیـر منقولـو دارایـي بانـدې ډېـر لـوړ مالیـات وضـع کـړي وو. خـو قانونپوهانو او هوښیارو محاسبینو (د قانوني تشـو او محاسـباتي چـال نـه پـه ګټـه اخیسـتنې) د هغـو کسـانو لپـاره چـې ددې مالیـاتو پـه راټولولو بوخت وو، په ۱۹۸۴ کال کې د غیر منقولو اموالو باندې مـو مالیات له ۲۰ سلنه څخه ۵ او ۱۰ سلنې تـه راټیـټ کـړل. پـه پایلـه کـې پـه مالیه کې دا بدلون موږ پـدې بریـالي کـړو چـې لـه دې لارې څخـه ډېـره ګټه ترلاسه کړو.

څکـه چـې د نویـو مالیـاتو میـزان، د املاکـو خاونـدان، لـه مـالیې نـه تېښـته یې نور پخپله ګټه نه بلله. زموږ د عوایدو ډېره برخه لـه فیسـونو څخه ترلاسه کېدله چې ددولتي خدماتو په بدل کې اچول کېدل، زمـوږ موخه داده چې دا فیسونه په عـین حـال کـې د یـوې نظـارتي وسـیلې پـه توګه کار وکړي، او د دولتي خدماتو د حد نـه زیـاتې غوښـتنې او غیـر ضروري سرچینو څخه مخنیوی وکړي.

د اقتصـاد پایـداره وده د اقتصـادي ثبـات لامـل ګرځـي؛ او اقتصـادي ثبات پخپل وار پانګونه هڅوي او بلاخره د ثـروت د پیـدا کېـدو سـبب ګرځي. څکـه مـوږ پـه لومړیـو کـې سـخته پرېکـړه کـړې وه او د سیاسـي موخو ترلاسه کولو لپاره مو بې ځایـه لګښـتونه راکـم کـړل. ومـو کـړای شول چې د حسنه او ښه دوران مو پـه اقتصـاد کـې رامنځتـه کـړ، چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټيټو لګښتونو، لوړو پس اندازونو او د کمو ټولنيزو مخارجو او د لوړې پانګونې وړ وي

په پايله کې مو وکړای شول د ځوانو بشري سرچينو پر مټ په تېرو دريو کلونو کې د خپلو شتمنيو په پراختيا لاس پورې کړو. په راتلونکو شلو کلونو کې پداسې حال کې چې زموږ نفوس زړښت ته رسېده.

زموږ اقتصادي وده به ورو شي، زموږ شخصي د سپما حسابونه به ټيټ شي، او زموږ روغتيايي لګښتونه به په نفوس کې د زړو افرادو په زياتوالي سره ډېر شي. دا پداسې حال کې ده چې زموږ يو شمېر ماليه ورکوونکي به په راتلونکي کې لږ وي.

هغه لاره چې موږ کولای شو د لګښتونو په مخنيوي او د زړښت دوران په وخت کې ورسره مقابله وکړو، داده نو چې د سپما حسابونو روغتيايي صندوقونه مو ډېر کړل، غوره لاره به داوي چې چې زده کړي او ماهر کډوال خپل هېواد ته جذب کړو ترڅو د مهارتونو ذخيره مو ډېره شي. نو پدې سره به مو د ناخالصو ملي توليداتو او د دولت عايد به مو لوړ کړي وي.

حکومت بايد د ملي ټولنيزو پروژو، مالي ملاتړ ډېر کړي، په هغه صورت کې چې ټولنيزو رضاکاران او د هغوی اداره شتون ولري. ددې بحث په پای کې بايد ووايم چې په هغه صورت کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمونیستانو خپل د هلو ځلو نفوذ په ټولنه کې ساتلی و ای ، د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې به د دې اقداماتو پلي کول اسانه کار نه وی.

له دې نه وروسته چې سینګاپور په کال **۱۹۶۵** کال کې خپلواکي واخیسته، کمونیستي مشران له سخړو او ستونزو سره مخ شوو ، اساسي قانون یې تر پښو لاندې کړ او د خلکو د عمل ګوند څخه بهر شول. موږ له دې فرصته په ګټنې ، د سینګاپور سیاست ته نوې بڼه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سینګاپور دیوه نړیوال سوداګریز او اقتصادي مرکز په توګه

د خلکو عمل ګوند او سني مشران د ځوان نسل سره د اړیکو په حال کې دي. د ۱۹۹۷-۱۹۹۹ کلونو مالي کړکیچ دې نسل ته یوه لویه ازموینه وه، یانې هغه نسل چې په ژوند کې یې ستونزې نه وې لیدلې.د سېنګاپور خلک او مشران په ګډه د دې ستونزو د حل لپاره سره یو شول او پر ستونزو غالب شول او له ستونزو څخه بریالي راووتل

له مالیزیا سره زموږ د دې موسمي کړکېچونو او ستونزو د سېنګاپور خلکو ته دا واقعیت ور زده کړل چې د اسیا په جنوب شرق کې ژوند څنګه تېر کړي.

اوس پوښتنه داده چې ایا هغه سیاسي نظام چې ما او همکارانو مې راتلونکي نسل ته جوړ کړی له بدلون پرته به خپل کار ته ادامه ورکړي کنه؟ زه پدې اړوند شک مند وم. د خلکو د ژوند انداز د ټېکنالوژۍ د انقلاب په پایله کې په چټکۍ سره د بدلون په حال کې وو ، د سېنګاپور خلک به په راتلونکي کې د داسې یو ښه ژوند خاوندان اوسي چې پخوا نه به د بېر توپیر لري. سېنګاپور به یو مهم نړیوال سوداګریز ، ټرانزیټي او اقتصادي مرکزونو څخه وي چې د د پوهې او تعلیم پر بنسټ به ډېر پرمختګ وکړي او معلوماتي ټېکنالوژۍ پدې عصر کې به خپلې بهرنۍ اغېزې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښارونو سرسبزه (شنه) کول

لویه ګټه چې موږ وکړه هغه وخت و چې د جنوب شرقي هېوادونو رهبرانو هوډ وکړ چې د خپلو ښارونو په شنه کولو کې به یو بل سره سیالي کوي. ډاکتر ماهاتیر (د مالیزیا څلورم لومړی وزیر) چې په په ۱۹۷۰ کلونو کې یې ویلای ایستانا کې ژوند کاوه، زما څخه و پوښتل چې د ایستانا چمنونه مو د څه شي په وسیله شنه ساتلي دي. هغه وخت چې هغه صدراعظمۍ ته ورسېد کولالمپور یې سرسبزه کړ.

د ښارونو د سرسبزه کولو پروژه په جاکرتا کې د سوهارتو، په مانیلا کې د مارکوس ولسمشرا او په بنکاک کې د ثانین لومړي وزیر لخوا پرمخ یوړل شوه. ما هغوی پدې کار کې وهڅول چې هغوی د خپلو ښارونو په شنه کولو کې ډېر امکانات لري، ځکه چې هېوادونه یې د سینګاپور اقلیم په شان د مناسب اقلیم، ونو او بوټو درلودوونکي وو.

بله هېڅ داسې پروژه نه وه چې دومره لویه ګټه یې زموږ سیمې ته رسولې وي. زموږ ګاونډیانو هریوه کوښښ وکړ چې د خپلو ښارونو په سرسبزۍ او ګل کارۍ کې له یو بل څخه مخکې شي. د ښارونو د شنه کولو پروژه یوه مثبته سیالي وه، چې ټول ترې برخمن شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سیالۍ د خلکو د مورال او روحیې د لوړولو لپاره ، د توریزم د پراختیا او د پانګونې د جلبولو لپاره ډېر ګټور تمام شو. د ښارونو په پاک ساتنې او شنه کولو کې سیالي کول ، د سیالیو تر ټولو غوره ډول دی. چې کولای شو ترسره یې کړو. زما په اند ، ډېرې برخې شته دي چې هلته سیالي کول د ګټې پرځای زیان کوي، خو د پاکوالي او شنوالي په اړه رقابت هېڅکله زیان نه لري.

یکشنبه د نوامبر لومړۍ نېټه په کال ۱۹۷۱ کې مونږ کلنۍ نیالګي کېنونه پیل کړه ، چې په هغې کې د پارلمان ټول غړي، ټولنیز مرکزونه او د هغوی مشرانو شرکت کړی و. له هغه کال راوروسته مو دا ورځ نمانځله او پدې ورځ مو نیالونه کېنول.

په سینګاپور کې د نیال کېنولو لپاره مناسبه میاشت د نومبر میاشت ده ، هغه نیالګي چې پدې میاشت کې کېنول کېږي کافي اوبه کولو ته اړتیا لري، ځکه چې باراني موسم کې ډېرو اوبو ته اړتیا نشته، ځکه چې زمونږ د ونو او بوټو ډولونه محدود وو ، خپل څېړنیز ټیمونه مو بوتانیک باغونو ، عمومي پارکونو او قلمه کرلو ځایونو ته خاره او نیمه خاره ځایونو ته ولېږل، چې بېلابېل بوټي له هغو هېوادونو چې یو شان اقلیم لري راوړي، دې ټیمونو ګل لرونکي ډېر بوټي له ځان سره راوړل ترڅو د سینګاپور په خاوره او هوا کې یې وازمایي. زمونږ بوټي پېژندونکو نژدې ۸۰۰۰ ډوله بېلابېل بوټي له ځا سره راوړل چې پدې بوټو کې نژدې ۲۰۰۰ بوټو په سینګاپور کې ښه وده او رشد کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو ، زموږ کرنیزو متخصصینو کلکې ونې ترویج کړې چې زموږ د هېواد د ونو په ډولونو او سمسورتیا کې یې ښه ونډه ترسره کړه.

یو کلیدي شخص چې د ښارونو په شنه کولو کې یې له ماسره مهم رول لوبوه، د سانګ یو کووان په نوم یو منصب دار و هغه په مالیزیا کې د کرنې په برخه کې لوړې زده کړې کړې وې او هوډ یې درلود چې د غوړیو ، ربړونو او خرما تولیدي فارمونو کې دنده ترسره کړي.

کووان له هغو تجربو څخه چې ترلاسه کړې یې وې، د ونو د روزنې په برخه کې یې چې د سړکونو او ښارونو په پارکونو کې کرل کېږي مهارت درلود چې همدا چاره یې په سېنګاپور کې هم پلې کړه چې ښه پایله یې ورکړه. ما ورته خپلې غوښتنې او هیلې وړاندې کړې او هغه هم ورته په ښه جدیت ځواب ورکړ او ډېرې هیلې یې په عمل کې پلې کړې، د هغه ځایناستی د چوا سیان ینګ و ، چې د کرنې په برخه کې یې تخصص درلود.

نوموړي ونې کرل او سرسبزي خپل کار وګڼه او د کووان کارونه یې وغزول، اوس نو چې کله له بهره د سېنګاپور هوایي ډګر کې کوزېږم او د سېنګاپور پارکونه، چمنونه، ښایسته میوه لرونکې ونې، ګلان او بوټي وینم نو زړه مې باغ باغ کېږي، کولای شم ووایم چې د سېنګاپور سرسبزه کول د لګښت له مخې یوه ګټوره او اغېزمنه پروژه وه چې ما ترسره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مطبوعات او بهرنۍ ګټې

موږ په ټاکنو کې ګټونکي شوو. د ستریس ټایمز ورځپاڼې، مسوولینو او مدیرانو کولالمپور ته خپل ځای بدل کړ. پدې کار سره، هغه څه چې موږ فکر کاوه پرې د تایید ټاپه ولګوله. موږ پدې عقیده وو چې دا ډله خلک زموږ د ملي ګټو خلاف خپرونې کوي او د بریتانیې ګټو او موخو ته انعکاس ورکوي نه دا چې د مطبوعاتو له ازادۍ له غمه مړه دي.

وروسته له دې چې موږ په کال ۱۹۶۵ کې خپله خپلواکي ترلاسه کړه (Strait times) ورځپاڼه بېرته سینګاپور ته راوګرځېده، پخپل دریځ کې یې بشپړ بدلون راوست او د PAP څخه یې ملاتړ وکړ. دې حرکت سره زما په زړه کېددې ورځپاڼې لپاره کوم احترام پیدا نشو، کله چې د مالیزیا سیاستونو د ورځپاڼې لپاره ګټور نه و نو ورځپاڼې د خپل کولالمپور دفتر په د مالیزیا د ملي یووالي په سازمان چې د مالیزیا د اقتدار ګوند و خرخ کړ.

زموږ حکومت د خلکو د عمل ګوند انګلیسي ونډه وال ته اجازه ورکړه چې د وزځپاڼې مالکیت وساتي او په سینګاپور کې خپل خپرونو ته دوام ورکړي. ښاغلي سیمویننز د ورځپاڼې مالک، د سولې لپاره زموږ خواته راغی او د خپلې ورځپاڼې د سیاسي اجنډا څخه تېر شو، خپل موضوعات یې اقتصادي او سوداګریزو مسایلو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړي کړل، د ورځپاڼې بلې مديرې اغلې لېسلي ببرته سېنګاپور ته ستنه نشوه او په استراليا کې يې ژوند غوره کړ.

له هماغه ځايه چې د سيالۍ پلوی وم، نورې ورځپاڼې مې هڅولې چې په سېنګاپور کې خپل کارونه پيل کړي. څو ورځپاڼو خپل کارونه پيل کړل خو ماتې يې وخوړه، د برتيانې د سل کاله حکمرانۍ نه وروسته، د Strait times ورځپاڼې تراوسه د سېنګاپور پر مطبوعاتو حاکميت درلود. د Singapore standard ورځپاڼې لا په ۱۹۶۰ کال کې خپلې دروازې تړلې وې. د Eastrern sun په نوم يوې بلې ورځپاڼې په شخصي توګه په ۱۹۶۶ کال کې خپل کار پيل کړ. د ورځپاڼې د مالک او کاو تر ډېره د ورځپاڼې د کارونو پرځای بداخلاقيو سره سر او کار و.

د چين د جمهوري اژانسو نو څخه تر خبرو وروسته - او کاو- وکړای شول چې درې ميليونه قرضه پيدا کړي. دا قرضه چې د خنده وړ ربع ۱،۰ سلنه توام په کال وه، بايد په پنځه کلونو کې بېرته ورکړي. ددې قرضې عمده پټ شرط داوه چې د چين جمهوري مملکت د عمده مسايلو سره غرض ونلري او مخالفت يې ونکړي او په نامهمو مسايلو کې بې لورې پاتې شي.

نوموړې ورځپاڼه د کمزوري مديريت له امله ډېر زيانونه وليدل. ورځپاڼې په ۱۹۷۱ کال کې يوه بله مرسته چې ۲۰۰۰،۰۰۰ ډالر کېده ترلاسه کړل. په ۱۹۷۱ کال کې موږ دغه تور فعاليت چې د بهرني قدرت لخوا تمويلېده افشا کړ. او کاو- دا مطلب ومانه چې دغه ورځپاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاتړ چین کاوه، د ورځپاڼې نشراتي بورډ په پایله کې په دا چاره خپل اهانت وګاڼه او استعفاګانې یې ورکړې او بلاخره ورځپاڼه وتړل شوه.

د Singapore Herald ورځپاڼه یوه بله ورځپاڼه وه چې تور فعالیت یې کاوه او په سینګاپور کې یې خپرونې کولې. ددې ورځپاڼې د تمویل سرچینه یوه غیر کمونیستي مرجع وه. دا ورځپاڼه په ۱۹۷۰ کال کې په بهرني مالیکیت سره د بهرنیو او ورځپاڼه لیکوونکو پرمټ خپرونې پیل کړې. ددې ورځپاڼې په پیل کې ماسره دا پوښتنه پیدا شوه چې په کوم دلیل دوه تنه بهرني وګړي چې د ورځپاڼې اصلي خاوندان هم وو په انګلیسي ژبه خپرونې پیل کړي، چې د بیان د ازادۍ په پلمه د حکومت ضد نشرات ، د جبري عسکري خدمت په اړه غوغا ، د رسنیو محدودیت او نورو تبلیغاتو لاس پورې کړ.

لیدل کېده چې ورځپاڼه د پیسو له اړخه په زیان کې وه، زموږ د داخلي امنیت ریاست (Internal Security Department) اطلاع ورکړه چې ددې ورځپاڼې لوی ونډه وال یو هانکانګي شرکت دی چې Heeda & Companay نومېږي چې په دوو مجهولو نومونو ثبت شوې وه. ورځپاڼې ډېر ژر ۲،۳ میلیونه ډالره خپله عملیاتي پانګه مصرف کړه. ددې پیسو له خلاصېدو نه وروسته په سینګاپور کې د چیس منهاتن بانک څانګې ۱،۸ میلیونه ډالر قرضه د ضمانت غوښتلو نه پرته یادې شوې ورځپاڼې ته ورکړل. ښاغلي ډیویډ راکفیلر د یاد بانک مشر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې اوند د ځواب ویلو لپاره تر فشار لاندې راغی، ماته یې فون وکړ او ویې ویل چې دا قرضه په اشتباه کې ورکړل شوې ده.

هغه مدعي شو چې لومړي مرستیال یې چې د چیس منهاتن بانک د سینګاپور د څانګې مدیر هم و د یاد بانک له مقرراتو څخه خبر نه و، او پدې نه پوهېده چې یاد بانک ورځپاڼو ته قرضه نشي ورکولای. د هغه توضیحاتو ماته قناعت رانکړ ما د ورځپاڼې له مسوول مدیر چې تازه ګمارل شوی و، وپوښتل چې هایدا او شرکا د ونډو د شرکت ترشا اصلاً څوک و، هغه داسې فکر کاوه چې زه له دې چارې څخه خبر وم. په ځواب کې یې وویل ددې ورځپاڼې اصلي مالک دانلډ ستیفنز، په کانبیرا (د استرالیا پلازمېنه) کې د مالیزیا سفیر و.

نوموړی شخص مخکې په مالیزیا کې د سباح ولایت اعلای وزیر و، هغه وروسته مسلمان شوی و او په ځان یې د فواد ستیفنز نوم کېښود. د مسوول مدیر څخه مې وپوښتل چې ایا فکر کوي ستیفنز دې په فردي ظرفیت سره حاضري شي چې د یو نیم میلیون ډالرو د بایلوو ریسک په ځان ومني چې د سینګاپور د حکومت پرضد یې تبلیغات کړي، چې د حکومت پروړاندې یې د سینګاپور د خلکو ذهنونه مغشوشول هغه په دې اړوند زما د بې باورۍ په اړوند موافق و.

کله مې چې دا مطلب ۱۹۷۱ کال د مۍ په میاشت کې پخپلې یوې وینا کې افشاد کړه، ستیفنز چې کله چې هغه په سینګاپور کې و ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلد وم چې اوس په کانبیرا کې اوسېده ، ماته یې یو لیک راولېږه چې داسې یې پکې لیکلي وو:

( باید درته ووایم چې ما ددې لپاره په SINGAPORE Herald ورځپاڼه کې پانګونه وکړه چې ما مخکې د ورځپاڼه لیکنې په برخه کې دنده لرله او معتقد یم چې سېنګاپور هغه هېواد دی چې هلته زما پانګونه خوندي ده...

زه زوړ شوی وم او فکر مې وکړ له تقاعدۍ نه مخکې پدې برخه کې په پانګونې سره په هیر الډ ځانته کافي معاش لاسه راوړم. هغه خپله برنامه کې توضیح نکړه چې ځنګه یې له پانګونې مخکې پدې برخه کې زه خبر نه کړم او زما د اجازې او ملاتړ په لټه کې هم نشو.

ورځپاڼې او نشرات یې له شک پرته د یوه هېواد په سیاستونو باندې اغېزمن ثابتېدای شي. کله چې په ۲۰ کلونو کې یو بل بهرنی ورځپاڼه لیکوونکی د ټامسن په نوم چې د ورځپاڼه لیکنې یو فعال و ، غوښتل یې چې په سېنګاپور کې یوه ورځپاڼه پیل کړي، ددې کار د ترسره کولو نه مخکې زما خواته راغی او راځخه یې مشوره وغوښته. ما ورته مشوره ورکړه چې دا کار ونکړي، ځکه چې نه مې غوښتل هغه بهرنی چې دلته کومه ریښه نلري زموږ سیاسي اجنډا تعین کړي.

پداسې حال کې چې د هیرالډ خزانه مخ په تشېدو وه، د آوسیان په نوم یوه هانکانګي ورځپاڼه لیکوونکې مېرمن چېد او کاو خور وه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدي سوداګره په نظر راتلله، په تاکيدي ډول يې ۵۰۰۰۰۰ ډالرور سره د ورځپاڼې ژغورنې ته زړه ښه کړ.

دې ښځې هغه سندونه چې پيسې يې ورکړې وې راته وښودلې، خو دا سند يې نه درلود چې هغه ددې ورځپاڼې شريکه ده که سهمداره. له هغې څخه مې وپوښتل چې ايا هوډ لري چې نورې پيسې هم ورځپاڼې ته ورکړي؛ ځواب يې راکړ چې نه، او ژر يې سينګاپور پرېښود او هانکانګ ته لاړه. د اسيا د مطبوعاتو بنسټ ( press foundation of ASIA ) چې د مطبوعاتو نړيوال انستيټيوټ سره همکاو، اعلاميه يې صادره کړه او له ما څخه يې وغوښتل چې د ورځپاڼې د نشراتو جواز فسخ نکړم. پدې اعلاميه کې زما څخه غوښتل شوي و چې د ای پی ای کلنۍ غونډه کې وينا وکړم. مخکې له دې چې په نوموړې کلنۍ غونډه کې د ګډون په موخه هلسنکي ته لاړ شم، د سينګاپور هيرالډ ورځپاڼې جواز مې فسخ او باطل اعلان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټولیزې رسنۍ

په یاده شوې کلنۍ غونډه کې که ما ګډون نه وی کړی نو اټکل کېده چې ګډونوالو د سینګاپور پرضد یو پربکړه لیک تصویبوه. په هغه بیانیه کې چې وړاندې مې کړه موضوع مې په نوې ډیموکراسۍ کې د رسنیو د رول په اړوند وه، پدې بیانیه کې مې ګډونوالو ته وویل زموږ اړتیا رسنیو ته داوه چې هغه کولتوري او فرهنګي ارزښتونه چې زموږ په ښوونځیو او پوهنتونونو کې تدریسېږي تقویت کړو، نه دا چې نور یې هم ضعیفه کړو.

ټولیزې رسنۍ کولای شي داسې یوه روحیه جوړه کړي چې د هغې پراساس خلک د پوهې، مهارتونو او هغو کاري ډیسپلینونو په ترلاسه کولو کې چې په پرمختللو هېوادونو کې مروج وي وهڅېږي. له دې څېزونو پرته موږ هېڅکله نشو کولای چې د خپلو خلکو د ژوند سطحه پورته کړو.

پدې بیانیه کې، سربېره پردې مې زیاته کړه چې په سینګاپور کې څرنګه مطبوعاتي راپورونه او انځورونه، په داسې یو هېواد کې چې د نژادونو، ژبو، کولتورونو او مختلفو مذهبونو څخه جوړ یو هېواد چې د ستونزو او ان وژنو سبب شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې اړوند مې له دوو مشخصو بېلګو څخه يادونه وکړه، په لومړۍ بېلګه کې مې هغو شورشونو ته نغوته وکړه چې په ۱۹۵۰ کال کې رامنځته شوه او د (ځنګلي جنۍ) د جنجالونو په نوم يې شهرت درلود. دې راپورونو ته د سېنګاپور ستېنډرډ ورځپاڼې لمنه وهله او پکې بار بار چاپېدل، پدې راپور کې يوه هالنډۍ جنۍ چې د خپلې ماليزيايي تورۍ سره مسلمانه شوې وه، د حضرت مريم مجسمې سره يې کونډه وهلې وه.

دې چارې د ډېرو احساسات راوپارول او د په واټونو کې د لاريونونو سبب شول، وروسته په ۱۹۶۴ کال کې د چينيي ضد شورشونه د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم د مولود په ورځ ترسره شول. دا شورشونه په يوې ورځپاڼه کې د ناسمو راپورونو دمکررو په پايله کې ترسره شول. چې د هغوی پر اساس اکثريتو چينايانو په اقليت ماليزيايانو ظلم کاوه، د ماليزيايي ډلې دا ناسم اخبار خلک شورش ته وهڅول.

حاضرينو ته مې وويل، زه پدې عقيده نه يم چې د ورځپاڼې خاوند هرڅه وغواړي خپاره يې کړي. د ورځپاڼې د امتياز خاوند او ژورنالېستان يې هغه څوک نه دي چې د د وزيرانو په څېر د خلکو په رايه انتخاب شوي وي. کنفرانس ته زما اخري پيغام دا و چې:

د مطبوعاتو او د خبري رسنيو ازادي بايد د سېنګاپور د انتخابي حکومت د اساسي اړتياوو تابع وي، د پاروونکو پوښتنو په ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې مې په ټول قاطعیت سره مې ادب او نزاکتونه وساتل. څو کاله وروسته مو یو قانون تصویب کړ چې پر بنسټ یې هیڅ څوک حق نلري د یوې ورځپاڼې د عادي ونډو د درې سلنې نه زیاته برخه ولري. په ضمن کې پدې قانون کې د ونډو ځانګړې کټګوري مو رامنځته کړه، چې د ونډو د مدیریت په نوم یادېده. د مطبوعاتو وزیر پدې اړه د پرېکړې واک درلود چې څوک به د ونډو مدیریت کې وي. هغه دا ونډې څلورو سیمه ییزو بانکونو ته ورکړې، دې بانکونو سینګاپوري مالکیت درلود. دې ونډه والو په سیاسي لحاظ بې پلوه دریځ نیوه او د خپلو شخصي ګټو لپاره اقتصادي ثبات او ودې ملاتړ کاوه.

زه د هغه سیاست چې غربي نړۍ یې د رسنیو په برخه کې کوي پلوی نه یم. هغه سیاست چې برجسته او شتمن د رسنیو خاوندان چې هرڅه یې زړه وي که له حقیقت څخه هم لرې وي، خپاره یې کړي، ددې پلوی نه یم. په ۱۹۸۰ کال کې یو شمېر انګلیسي ژبي نشرات چې د غربیانو په لاس کې وو ، د ملاحظې وړ ډېر شو.

په ښوونځیو کې د انګلیسي تدریس په پایله کې ، هغه خلک چې انګلیسي اخبار یې لوستـه یا یې انګلیسي سره لېوالتیا لرله، مخ په ډېرېدو وو. مونږ کمونیستي نشرات تل بند کړیدي، هېڅ انګلیسي ژبې رسنۍ او یا کوم بهرني رسنیز سازمان پدې اړوند کومه نیوکه نه ده کړې. مونږ هېڅ کومه غربي ورځپاڼه نده تړلې، دې ورځپاڼو کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په اړه تورونه لګولي دي يا يې ناسم معلومات خپاره کړيدي، هېڅ کله يې موږ ته دا حق نه دی راکړی چې د دوی د ناسمو معلوماتو او تورونو په اړه ځواب وواېو.

په کال **۱۹۸۲** کال کې مو پرېکړه وکړه چې داسې يو قانون تصويب کړو چې په هغه کې د هغه ورځپاڼو وېش او پلور محدود شي چې د سېنګاپور په کورني سياست کې مداخله کوي. پدې قانون کې د يو معيار داو چې د تشخيص لپاره (د سېنګاپور په کورنيو چارو کې لاسوهنه) دا وه چې ايا د سېنګاپور په اړه که کومه ورځپاڼه ناسم راپور خپروي، حاضره ده چې زموږ ځواب يا سپيناوی هم خپور کړي ، که نه ! نو موږ دا ډول ورځپاڼې ونه ترلې خو تيراژ مو ورته محدود کړ.

هغه چاچې ددې محدوديت په پايله کې نوموړې ورځپاڼه نشو ترلاسه کولی نو کاپي يا د فکس له لارې به يې ترلاسه کوله چې دې چارې ددوی په اعلاناتو باندې ناوړه اغېز وکړ، خو د هغوی د راپورونو د خپرولو خنډ نه ګرځېد.

په پايله کې دې ورځپاڼې والا نشو ويلی چې موږ ددوی د راپورونو څخه وېره لرو، لومړنۍ خپرونه چې دا قانون يې تر خپو لاندې کړ، د Time په نوم يوه امريکايي اونيزه مجله وه. د **۱۹۸۲** کال د اکتوبر په مياشت کې د ولسي جرګې يو وکيل چې د حکومت مخالف و د قرضه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوونکو د پیسو د غلا په تور او د ناسمو معلوماتو او اسنادو په وړاندې کولو سره د سینګاپور د محاکمو لخوا مجرم وپېژندل شو.

زما مطبوعاتي سکرتر یو مکتوب مجلې ته ولېږه او په هغه کې د دریو فاحشو غلطیو چې په راپور کې وې اصلاح شوې. مجلې د مکتوب له چاپ څخه سرغړونه وکړه او پرځای یې دوه متنونه وړاندیز کړل چې د مطلب مانا یې تغیروله.

زما مطبوعاتي سکرتر غوښتل چې لیک یې له ایډیټ پرته خپور شي. کله چې مجلې بیا هم دده غوښتنې ته منفي ځواب ورکړ. د مجلې تیراژ مو له ۱۸۰۰۰ څخه تر ۹۰۰۰ پورې او پاتې ۲۰۰۰ کاپیو ته راټیټ کړ. له دې اقدام څخه وروسته، د ټایم مجلې زموږ ځواب د بشپړ متن سره چاپ او خپور کړ.

اته میاشتې وروسته، هغه محدودیت چې پر مجله مو لګولی و، مرتفع کړ. د اسیاسي وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې په ۱۹۸۲ کال د ډسمبر په میاشت کې زموږ د ثانوي ونډو بازار په اړه یو دروغجن راپور خپور کړ. پدې راپور کې ادعا شوې وه چې دولت دا بازار ددې لپاره رامنځه کړی چې په هغه کې د هغو دولتي شرکتونو ونډې چې د سقوط په حالت کې وي پر ښاریانو خرڅ کړي.

د سینګاپور پولي اداري ددې بې ځایه تورونو په اړه یو لیک د ورځپاڼې اداري ته ولېږه، ورځپاڼې نه یوازې دا چې زموږ لیک خپور

(c) ketabton.com: The Digital Library

نکړ، بلکې ادعا یې وکړه چې دا سې یوه کمپنۍ شته ده او زموږ مکتوب د ورځپاڼې شهرت ته صدمه رسولې. دې ادارې یوه بل لیک د ورځپاڼې ادارې ته واستوه او په هغه کې یې د ورځپاڼې تیروتنو ته ایشاره کړې او هیله یې وکړه چې هغه کوم مطلب و چې د ورځپاڼې شهرت او باور ته یې زیان اړولی؟ هیله مو وکړه چې ورځپانه دې زموږ مکتوب خپور کړي.

ترڅو لوستوونکي خپله قضاوت وکړي، خو ورځپاڼې د سقوط په حال کې د دولتي شرکت نوم ذکر نکړ او ځرګنده یې نکړه چې کومې برخې ددوی ورځپاڼې باور او شهرت ته زیان اړولی دی.

په ۱۹۸۷ کال د فیبروری د اسیایي وال ستریټ ژورنال ورځپاڼې تیراژ له ۵۰۰۰ څخه ۴۰۰ ته راټیټ کړ او هغه مکتوبونه چې د سنګاپور پولي ادارې او ورځپاڼې ترمنځ رد او بدل شوي وو خپاره کړه. موږ د هغه ورځپاڼه لیکوونکی چې د جنجال سبب شوی و بلنه ورکړه چې د حثیت د زیانمنېدو لپاره یې موږ محکمې مېز ته راوکاږي خو هغه دا کار ونکړ.

په تعجب سره مې واورېده چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ویاند څنګه چې د خپله ورځپاڼې پواسطه راپور ورکړی شوی و. پدې اړه چې موږ د وال ستریټ ژورنال تیراژ رانښکته کړی و، پدې سره یې خپګان ځرګند کړ. زموږ د بهرنیو چارو وزارت د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ترڅو د هغه راپور چې د وال ستریټ ژورنال

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپور کړی و ، تایید کړي، ځکه که دا ثرګندونې که ریښتیا هم شوې وي نو په ښکاره د سېنګاپور په کورنیو چارو کې لاسوهنه ده.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت زموږ پوښتنې ته ځواب وویل او زیاته یې کړه چې پدې اړوند له هېڅ کوم خوا پلوي نه کوي او خپله بې پرېتوب ساتي. په یوه بل لیک کې مې د امریکا متحده ایالتو د بهرنیو چارو وزارت څخه مې وپوښتل دبې پرېتوب اصل په پام سره ایا حاضر به شي چې د وال سټریټ ژورنال سره زموږ د تبادله شوو مکتوبونو د خپرواي په اړه تاسف ښکاره کړي. د بهرنیو چارو وزارت بیا بیا دا ویلي چې له هېڅ کومې ډلې پلوي نه کوي.

خو د هغه دایمي ژمنې په اړه چې د وینا د خپلواکۍ په اړه یې لري، دا بیان په دې مانا وه چې مطبوعات د نشراتو په برخه کې چې څه خپروي ازاد دي. په که څه دا چاره غیر مسوولانه او یو طرفه په نظر راتله، زموږ د بهرنیو چارو وزارت وویل چې موږ اړ نه یو چې د امریکا د مطبوعاتو له قانون څخه پیروي وکړو.

زموږ د بهرنیو چارو وزارت په مکتوب کې زیات شوي وو چې، سېنګاپور خپل قوانین لري او دا حق خپل ځان ته خوندي کوي چې ناسمو او ګمراه کوونکو راپورونو ته ځواب ووایي. په مکتوب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذکر شوي وو چې بهرني مطبوعات په سينګاپور کې د وېش او نشر (حق) نلري.

موږ دا امتياز د هغو شرايطو پر بنسټ ورکوو چې موږ ووضع کړيدي. د متحده اياﻻتو د بهرنيو چارو وزارت دې مکتوبونو ته ځواب ونه ويل. دوه اونۍ وروسته وال سټريټ ژورنال يو مکتوب د اړيکو او اطلاعاتو وزارت ته راولېږه او په هغه کې يې د دې اجازه غوښتې وه ترڅو ورځپاڼه هغو ګډونوالو ته وړيا ووېشي چې په ورځپاڼه کې يې ګډون کړی و خو د تيراژ د کمښت له امله ورته ورځپاڼه نه ده رسېدلې.

په مکتوب کې راغلي و، چې ورځپاڼه حاضره ده هغه سوداګرو ته وړيا ووېشي چې د ورځپاڼې د نه رسېدو له امله يې شکايت کاوه، وزارت له دې وړانديز سره پدې شرط هوکړه وکړه چې سوداګريزې خبرتياوې به ترې باسي. ورځپاڼې زموږ د وړانديز ونه مانه او ټينګار يې کاوه چې خبرتياوې يې عمده برخه ده او پرته له دې به ورځپاڼه د ډېرو ستونزو سره مخ شي.

موږ وړانديز وکړ چې هغه لګښت چې د خبرتياوو د نه خپراوي په برخه کې وي موږ يې پرغاړه اخلو. ورځپاڼې زموږ د وړانديز هم رد کړ، په ځواب کې مو وليکل: تاسو پدې اړه لېوالتيا نه لرئ چې خلک د اعلاناتو له لارې د سوداګرۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي، بلکې موخه مو داده چې د اعلانونو له لارې پيسې وګټئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۸۷ په سپتمبر کې د ایشیا ویک په نوم امریکایي خپروني موږ هېڅ وګڼلو او یو ناوړه عمل یې ترسره کړ.

قضیه داسې وه چې زموږ د کورنیو چارو وزیر مطبوعاتي سکرتر یو مکتوب د خپروني دفتر ته استولی یې وه او په هغه کې یې د هغه ناسم مطلب په اړه ایشاره کړې وه چې په مجله کې خپور شوی و، ایشیا ویک مجلې ددې لیک ځینې برخې د (حقایقو د مسخې) تر سرلیک لاندې خپور کړ. ورځپاڼې نه یوازې دا چې د لیک ځینې برخې لرې کړې وې بلکې له ۴۷۰ څخه ډېرې کلمې یې له ځانه اضافه کړې وې او لیک یې دوه برابره کړی و.

پره له دې چې د سکرتر هوکړه ترلاسه کړي، یا د موضوع د تحریف په اړه لوستوونکو ته افشا کړي. سکرتر یو احتجاجیه لیک ولېږه او په هغه کې یې غوښتي و چې مجله د هغه ټول اصلي لیک او نرې راتلونکې لیکنې له کموالي او زیاتوالي نه پرته چاپ کړي.

ایشیا ویک له دې کار څخه سرغړونه وکړه. موږ د مجلې تیراژ له ۱۱،۰۰۰ څخه تر ۵۰۰ کاپیو پورې کمې کړې. یوه میاشت وروسته، مجلې زموږ لیکونه له ایډېټ پرته خپاره کړل او موږ هغه بندیز چې پرې لګولی مو و یو کال وروسته لرې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فیلیپیني رسنۍ

له دې نه ورانده چې زموږ ستونزه د وال سټریټ ژورنال سره حل شي، راته بلنه راکړل شوه ترڅو په واشنګټن کې د ورځپاڼو د مدیرانو په ټولنه کې چې په ۱۹۸۸ کال د اپریل په میاشت کې جوړېده وینا وکړم.

بلنه مې ومنله. په یاده غونډه کې مې د خپرو پرمهال یوه جمله اقتباس کړه چې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د یوه مامور په خاطراتو (یادیزو) کې داسې لیکل شوي وو:

هغه ځای کې چې رسنۍ خپلواکې دي، د مسوولو او نامسوولو مطبوعاتو تفکیک ګران کار دی. ما ددې مطلب په څرګندولو سره زیاته کړه هغه موډل چې په متحده ایالاتو کې حاکم دی د نړیوال باور څخه برخمن نه دی. د بېلګې په توګه، دفیلیپین رسنۍ د امریکا پر موډل ولاړې وې او د ټولو ازادیو څخه برخمنې دي.

خو دا مطبوعات د فیلیپین د خلکو پروراندې ناکامې وې. یو اړخیزه او ناخپلواکه رسنیو ددې سبب شوې وې چې د فیلیپین سیاستوال د هغه هېواد د مطبوعاتو بازار بدتر او پخپلو لاسوهنو مبتذله کړي او د خلکو افکار مغشوش کړي. چې خلک پدې پوه نشي چې د هېواد لوړې ګټې یې په څه کې نغښتي دي.

پدې وینا کې ما په یوه نوې مخ پر ودې ټولنه کې د مطبوعاتو پر رول خپل دریځ روښانه کړ. زما په اند د سینګاپور کورنۍ مناظره خپله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنګاپور خلکو پورې اړه لري او باید وي هم. موږ امریکایي ورځپاڼه لیکوونکي په دې توګه په سنګاپور کې منو چې سنګاپور خپلو هېوادوالو ته ور وپېژني.

موږ د امریکایي ورځپاڼو خرڅلاو ته پدې شرط اجازه ورکوو چې وپوهېږو هغوی زموږ په اړه څه لولي. خو موږ هغوی ته اجازه نه ورکوو چې کوم رول چې په امریکا کې لوبوي دلته یې هم ولوبوي. یانې موږ هغوی ته اجازه نه ورکوو چې د حکومت کړنو څارنه وکړي.

هېڅ بهرني ټلوېزیون په سنګاپور کې د خپرونو د خپرواي غوښتونکي شوي نه و. حقیقت دادی چې د امریکا د اړیکو او ارتباطاتو فدرال کمېسیون له **۲۵** سلنه څخه د زیاتو راډیو ټلوېزیونونو ته پخپل هېواد کې د نشراتو اجازه نه وه ورکړې.

ددې کمېسیون د قوانینو پر بنسټ، یوازې امریکایان کولای شي هغه سوداګري چې د امریکا د خلکو پر عامه ذهنونو اغېز کوي تر خپلې ولکې لاندې راولي.

همدا سبب و چې روپرټ مرداک په **۱۹۸۵** کال کې مجبور شو چې د خپلواکو ټلوېزیونونو د اخیستلو څخه مخکې لومړی د متحده ایالاتو تابعیت واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمود کرزي ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړن او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال چاپ شوي اثار:

ورزش

ننګیالی د زمانې خوشال خټک یم

ما لا ګل بوی کړی نه و

ځوانان د انټرنیټ په زمانه کې

زهر او اوبه

د سینګاپور داستان

## ناچاپ اثار:

د ماشوم اروا پوهنه

د حافظې تقویت

نثر څنګه ولیکو

د خپرونو لړ: ٦٠

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**